د سیوري روح

محمد اجمل کریمي

لومړۍ شعري ټولګه

BK
بی کے پبلشرز
BK PUBLISHERS

د سیوري روح

محمد اجمل کریمي

په تا دي هیڅ نه کیږي، سیوری دی هم روح لري
دا روح د سیوري نه دی دا د یوه انسان روح دی
که په تا څه کیږي حساب به یې بیا ته ورکوې
یو نازدانه روح دی دا یو ښه مسلمان روح دی
تاسره ګرځي ځکه تا سره ریشته لري دا
په تا دي هیڅ نه کیږي، لویه حادثه لري دا

BK
بی کے پبلشرز
BK PUBLISHERS

بسم الله الرحمن الرحيم

د کتاب په اړه:

د کتاب نوم: د سیوري روح

لیکوال: محمد اجمل کریمي

خپرندوی: بي کې پبلشرز

کمپوز: بختیار خلجی

ډیزاین: بختیار خلجی

د چاپ کال: 2026

Copyright © 2026 BK Publishers

ټول حقوق خوندي دي

ممکن چې خبره به مې بدله وای لږ
ته که مې په نوم باندې ماتله وای لږ

سریزه

ژوند ډېرې ستړیاوې لري چې ددې ستړیاوو د هوساینې لپاره سړی یوې دمې ته اړتیا لري او په دمه کې د زړه د خوښې او ذوق کړنه دا ستړیا په هوسایي بدلولای شي. مثلا یوڅوک چې دمه کوي چای څښي، بل سندره اوري، بل د ذوق د ملګري خوا ته ورځي او دمه ورسره راسته کوي، بل بیا قلم را اخلي خپل انځور رسموي، زړه پرې تشوي او ذهن ته ارامي ورکوي.
ددوی په څېر ما هم د ژوند د ستړیا احساس په قلم ور واچول او د سپینو پاڼو په تورولو مې د زړه زنګ لرې کول همدا و چې ځینو ملګرو راته زیات ډاډ راکړ چې ګواکې زما دا پاڼې فقط زما نه بلکې د ډېرو د زړونو د زنګونو د لرې کولو سبب دي.
ددوی ډاډ زه ډېر خوشحاله کړم که څه هم ما دا هرڅه یوازې د خپل بوج د سپکولو لپاره کول خو ددوی دې ډاډ راته د خلکو د زړونو د خیال ساتلو او درکولو احساس هم راکړ. ما بیخي زیات لیکل کول مګر بیا هم بیخي زیات تشویقېدم آن ځینو ملګرو خو دومره مینه راکړه چې حیران یې کړم. ۲۰۲۲ کال و څو ملګرو راسره د یوه کتاب د چاپولو وعده وکړه او ماته یې د انتخاب او په کره کتونکو باندې د خپلو الفاظو د کتلو وویل.

هڅې مې شروع کړې، ځینو استادانو ته مې د کتاب محتوا ولیږله چې ویې ګوري. نه پوهېږم خو ددوی د یادونو پر اساس دوی زیات مصروف ول. دغه محتوا درې څلور میاشتې ددوی حضور ته پرته وه. ټولو راته د ښه شعر ډاډ راکړ چې ښه څه دي لیکلي دي، خو ځینو فقط د چاپ وویل چې چاپ یې کړه او ځینو بیخي ځواب رانکړ. زړه ماتی شوم، مګر لیکل مې ځکه نه پرېښوده چې زما د ستړیا هوساینه وه خو د لیکل شویو غزلونو او نظمونو لیږد مې تر کتابچو پرېښود.

آن تر دې ننه پورې مې بیا د کتاب د چاپولو تصور هم ونکړ. یوه ورځ راته قدرمن او خوږ ملګری بخت محمد بختیار صاحب چې په ټولنیزو رسنیو کې په بختیار خلجي باندې یادېږي، له اوله تر اوسه زما د هر غزل او نظم ځانګړی او له زړه غوښتونکی دی او بې اندازې مینه، قدر او احترام یې راته لرلی دی. راته میسیج وکړ، د کتاب د جوړولو یې وویل. ما ورته انکار وکړ ځکه زه یو ځل دې چارو ستړی کړی وم، نه مې غوښتل چې یا دی یا زه بیا ځل ستړي شو خو د بختیار صاحب ټینګار و چې زما دا هیله باید نیمګړې پاتې نه شي دده په ډېر ټینګار مې وویل چې یاره د نن سبا په دور کې څوک شته چې ستا د لوړولو او زړه ساتلو فکر ولري ورسره ومې منله، کار مو پیل کړ،د کمې زړې او زیاتې نوې شاعرۍ نه مو انتخابونه وکړل که څه هم د هغه وخت نوم ما ورته بل څه ټاکلی و مګر د

د سیوري روح

زیاتو ملګرو په نظر جذاب نه و،نو مې د (د سیوري روح)
ورته نوی نوم ورکړ. ځکه چې ما تل د شعر په نامه د یوه ورک
او پردي انسان په چوپ سیوري کې خیالي روح اچاوه او بیا مې
له یوه ستړي عاشق انسان سره د معشوقې په نامه غږاوه.
 دا ټول دروند بار له کمپوزه، ډیزاینه او آن تر خپرېدا ټول دې
ښه انسان پخپلو اوږو واخست.
ددې لوی احسان او مهرباني د لاس او نظر بدله به زه هیڅ ادا
ګړای نشم له اوله تر اوسه او آن دادی نن ستاسو تر لاسونو تر
رسېدا پورې یې دا مسؤلیت اخستی دی. په پای کې باید ووایم
چې ځینې انسانان یوازې په څېره او رنګ ښایسته نه، بلکې په
زړونو هم ښایسته وي. زه دي بې داسې انسانانو نشم.
هیله لرم چې زموږ دا الفاظ به ستاسو د زړه او احساس
ترجماني وکړای شي او ستاسو ستر ذوق به خړوب کړای شي

مینه، قدر او درنښت

محمداجمل (کریمي)

یکشنبه۱۹ اپریل ۲۰۲۶

د شاعر پېژندنه

محمد اجمل کرېمي د 2000 کال د سپټمبر په 27 نېټه دې نړۍ ته سترګې غړولې دي هغه د غزني ولایت اندړو ولسوالۍ زرین کلي اوسېدونکی دی.

هغه خپلې لومړنۍ زده کړې تر څلورم صنف پورې په خپل هېواد کې ترسره کړې دي وروسته یې په پاکستان کې د کمپیوټر او انګلیسي ژبې زده کړې کړې دي که څه هم رسمي زده کړې یې ډېرې اوږدې نه دي خو د ژوند تجربو ستونزو او خپل شوق هغه داسې پیاوړی کړی دی چې د فکر او احساس له پلوه ځانګړی ښکاري.

هغه په 2019 کال کې د شعر لیکلو پیل وکړ له هماغه وخته یې خپل احساسات په الفاظو کې بندول شروع کړل او ورو ورو یې شاعري خپل رنګ واخست د هغه لپاره شاعري یوازې یو هنر نه دی بلکې د زړه د بوج د سپکولو یوه لاره ده.

له خبرو تر زړه

گرانو لوستونکو

دا څو کرښې یوازې د یو شاعر د پېژندنې لپاره نه دي بلکې د یو داسې انسان د ژوند احساس او یاد لپاره دي چې زما لپاره یوازې یو شاعر نه بلکې یو ډېر نږدې ملګری هم دی کله چې زه د دې کتاب پاڼې اړوم نو داسې احساس کوم لکه د هغه د زړه خبرې مې بیا بیا مخې ته راځي لکه هره کرښه یې یو ژوندی احساس وي او هر لفظ یې د زړه له ژورو نه راوتلی وي.

زما د شعر او ادب سره مینه له پخوا نه وه له هغه وخته چې زه په ښوونځي کې وم د شاعرانو کلام به مې لوستل د کتابونو پاڼې مې اړولې او د شعر له نړۍ سره مې یو خاص تړاو پیدا کړی و که هغه په پښتو ژبه و او که په اردو کې هر ښه شعر به زما زړه ته لاره پیدا کوله همدا شوق ورو ورو زما د ژوند یوه برخه شوه او زه له هماغه وخته د الفاظو احساساتو او فکرونو له دې نړۍ سره بلد شوم.

همدا مینه وه چې یوه ورځ مې د ټولنیزو رسنیو له لارې د محمد اجمل کریمي سره پېژندنه وشوه هغه د افغانستان اوسېدونکی و او زه په کوټه ښار کې لوی شوی یم خو که څه هم زموږ ځایونه جلا وو زموږ ژبه احساسات او د زړه دنیا یو شان وه همدا وجه

وه چې زموږ خبرې يوازې تر پېژندنې پورې محدودې پاتې نه شوې بلکې ورو ورو په رښتينې ملګرتيا بدلې شوې.

موږ به ډېر وختونه د شپې ناوخته تر ډېره ويښ وو د شپې چوپتيا د زړه خبرې او د شعرونو تبادله به داسې فضا جوړه کړې وه چې سړی به يې له ځان سره يوې بلې دونيا ته کوچاوه کله به مو يو بل ته خپل نوي شعرونه ويل کله به مو پرې بحث کاوه او کله به مو يوازې هغه خبرې شريکولې چې انسان يې له هر چا سره نه شي شريکولای همدا شېبې وې چې زموږ ملګرتيا يې نوره هم ژوره کړه.

وروسته يو وخت داسې هم راغی چې هغه زما مېلمه شو دا هغه شېبه وه چې ما هغه يوازې د الفاظو له لارې نه بلکې له نږدې وپېژانده د هغه ساده توب د هغه فکر او د هغه د زړه صفايي مې له نږدې ثابت کړل موږ سره کېښناستو يو بل ته مو شعرونه وويل ما ورته خپل انتخابونه شريک کړل او هغه خپل کلام راته واوراوه دا شېبې زما د ژوند له هغو يادونو څخه دي چې

هېڅکله به يې هېر نه کړم.

دلته يې ځينې بېلګې راوړم.

زه او مابښام انډيوالان يو دواړه

غلي او ستړي راشو کينو سره

ډنډ سترګې يو بل ته ور واړوو

اوښکې مو ځمکې ته کوزيږي نه

د سیوري روح

ډک زړه مو ډک وي خو تشیږي نه
د یو بل غېږو ته ور ولوېږو
مړی مو ګونګې وي غږیږي نه
ښه له یو بل څخه چاپېرو شو سره
په هسوېلیو کې راګېر شو سره
ذره ذره ویران ویران یو دواړه
زه او ماښام انډیوالان یو دواړه

دا نظم د یو داسې سکوت او درد انځور دی چې هر حساس انسان یې په خپل ژوند کې یو وخت احساس کړی وي دا هغه حالت دی چې انسان پکې له خپل ځان سره کښېني خو خپل درد په ژبه نشي راوړلی.
یوه ورځ مې ترې وپوښتل چې مینې څه خاص درکړي دي؟
ویل یې.
سوال راڅخه وشي د مرګي ناهیلي کېنم
ومې خوري دا خپله بې وسي ناهیلي کېنم
زه د بنجاره دوکان ته ځکه نه ورځم چې
تا رایادوي ګېډۍ بنګړي ناهیلي کېنم
اخ جوړه هینداره هم بې تابه شي راماته
ګورم چې مې کرښې د تندي ناهیلي کېنم

د سیوري روح

دا اشعار د یو داسې زړه حال بیانوي چې د ژوند له حالاتو ستړی شوی دی دلته هر لفظ یو احساس دی او هره کرښه یو درد لري.
مونږ به اکثره د شپې غږیدو یوه شپه یې راته ویل.
ناروا شپه ده ستا ارمان کومه ښه نه کوم
عبس کیسه ده ستا ارمان کومه ښه نه کوم
لکه لوحه د یوه لوېدلي او ورک شوي قبر
دا مې خبره ده ستا ارمان کومه ښه نه کوم

دلته د ارمان ماتې او یوازیتوب یو ژور تصویر وړاندې شوی دی چې لوستونکی پرې فکر کولو ته اړ کېږي.
بله ورځ مې کیسې ورسره راغللې ما ویل په کشېرینې دي پر مخ ګونځې ښکاري ولې؟
دی راته وایي:
ممکن چې خبره به مې بدله وای لږ
ته که مې په نوم باندې ماتله وای لږ
اوس چې راسره ده کومه پوهه تجربه
دا راته حاصله له اوله وای لږ
دا کرښې د وخت او تجربې هغه حقیقت بیانوي چې انسان ته وروسته څرګندېږي کله چې تېر وخت بیا نه راګرځي.

د هغه د فن په اړه

د محمد اجمل کریمي شاعري ساده ده خو ژوره ده هغه تصنع نه کاروي بلکې خپل رښتیني احساسات په ډېر صاف انداز بیانوي د هغه په کلام کې د زړه رنګ ښکاري او همدا وجه ده چې لوستونکی ورسره ځان نږدې احساسوي.
هغه که نظم لیکي که غزل او که نور صنفونه په هر ځای کې د هغه د فکر او احساس یو ځانګړی رنګ ښکاري دا هغه شاعري ده چې یوازې لوستل نه کېږي بلکې محسوسېږي هم.

زه دا په ډاډ سره وایم چې دا کتاب به ستاسو زړونو ته لاره پیدا کړي تاسو به پکې یوازې الفاظ ونه لولئ بلکې یو ژوند یو درد او یو احساس به هم محسوس کړئ.

پای

په درنښت
بختیار خلجی
کراچی

ډالۍ!

خپلې مُقدسې مينې ته چې سيورى يې

زما په ذهن او زړه هوار دى

او

ريښتنيو ملګرو ته چې زما د الفاظو بې

حده احترام او قدر ورسره دى

حمد

په کاڼو کې دي غږ دی د ثناء،پروردیګاره!
په بوټو کې دي هم چلیږي ساه،پروردیګاره!

ګلاب ګلاب دي جوړ کړمه له خاوري بیا له ختې
جنت دي را فیرزو کړ د ښکلا ،پروردیګاره!

که اور دی،که اوبه دي،که خزان،که پسرلی دی
را ښایي ستا قدرت جلا جلا ،پروردیګاره!

مُرغان خپلو نغمو کې ستا د عشق سندره وایي
خوشبو دي د خلقت راوړي هوا،پروردیګاره!

خلیل دي اور کې بچ کړ او یونس د ماهي خوله کې
په کورکې د فرعون لوی شو موسیٰ،پروردیګاره!

دټولو ته خالق یې ټول به تاته در ګرځېږو
چې ته به لا راضي یې جار!له چا،پروردیګاره؟

چې ستا د یوه صفت دیوې ذرې ذره بیان کړې
دی چرته"کرېمي"دومره دانا ،پروردیګاره

نعت

باید چې لوګی شي زمانې د محمد ﷺ
واړه رڼا ګانې دي تسپې د محمد ﷺ

ټولې فرېښتې وې د لبیک په اقامت
مینه کې ډېرې غېږېدې د محمد ﷺ

تل یې اذان کړی دی دعِشق د جومات
تل مسته خوشبو تللې له خولې د محمد ﷺ

شاته یې اقتیدا کړې د رنګونو پاچاهي
جارشم عاشُقانې دي ایئنې د محمد ﷺ

ماته دي رانجه شي په دې ماتو سترګو جاار
ګرد را لتېدلی له پښې د محمد ﷺ

خدای ورته پخپله خوله سلام ویلی دی
څوک دي؟چې لا کوري لو رُتبې د محمد ﷺ

ټوک په ټوک وجود به"کړيې" ووایي جان
چوف کړه پرې ویلې کلیمې د محمد ﷺ

غزل

ژاړمه دستي لالیه مه مې غېږوه!
نه یمه صحي لالیه مه مې غېږوه!

شان دوطن،نوم د وطن،خلک د وطن
خواه را بدوي لالیه مه مې غېږوه!

سترې ماښام،سترې شپه،په سترې اروا خورم
سخته ده بیخي لالیه مه مې غېږوه!

ورکه ده خوښي راځخه پام مې نه ورځي
کرځم بې لالي لالیه مه مې غېږوه!

سترګو کې مې ښه ده چې شي پټې شم ارام
ذهن ته راځي لالیه مه مې غېږوه!

نه شوم د یوښکلې حقدار لاړلې عبس
وینې د زړګي لالیه مه مې غېږوه!

مینه،احساس،خدای څوک په زړه نه احساسوي
یاره"کریمي" لالیه مه مې غېږوه!

غزل

د کومې پیغلې شناختو شناختو کل کړی دی
چې ژوند په کوم لوري تکل کړی دی؟

څو کاله کیږي مګر نه رسیږم
دچا تر زړه مې ډېر مزل کړی دی

ځان،هیلې،ژوند او مخ ته ایښې اسرې
عشق مې له ټولو نه اول کړی دی

سختی،ستړیاوې راته هیڅ هم نه دي
د یار په سترګو مې توکل کړی دی

چې ته رایاده شې کتاب را واخلم
سخت مې له ذهن سره چل کړی دی

"کریمي" نشت د منو نه ډکوي
که ټول جهان مې پل په پل کړی دی

غزل

سپېره غونډۍ په تنده د سماء ولاړه وه
ویرانه زندګي چې مې په تا ولاړه وه

چاپېر ځینې را تاؤ و مست اتڼ د شب پرستو
مایوسه ورته مخامخ رڼا ولاړه وه

خو هیچا هم د درک لاس راته نه را اوږداوه
اګر که بربادۍ ته مې دونیا ولاړه وه

ګلونه ورته مړاوې او سر ټیټي شانته وو
دچا په اننګو دومره ښکلا ولاړه وه

ته نه وې د طبیب وربانديې وس نه رسېده
په ستونې کې مې غوټه غوټه ساه ولاړه وه

زما د خوشحالي د ژوند دسات هره یوه ستنه
هغسې ماته ماته وه په شا ولاړه وه

مجنون غونډې کعبه کې مې یې هم د یاد سوال وکړ
په زړه مې"کږې"داسې لیلا ولاړه وه

غزل

ممکن چې څېره به مې بدله وای لړ
ته که مې په نوم باندې ماتله وای لړ

داچې وایم ښه یم!دا تمثیل به حقیقت وای
کاشکې!زندګي راسره خپله وای لړ

اوس چې راسره ده کومه پوهه،تجربه
دا راته حاصله له اوله وای لړ

غرونه فاصلې مو وای په مینځ کې درې ورې
بیا راته څرګنده کله کله وای لړ

جار!پروردیګاره! ستا دربار کې به څه کم وای؟
جار!چې برخمن یې له څنګله وای لړ

ما به"کریمي"ځان ته را غوښتی وای وختي
مرګ که بې نیتې او بې اجله وای لړ

غزل

ګلاب لاليه لوږه د خوشبو را لټېدلې
ته چرته يې؟ بلا مې په رګو را لټېدلې

پلو کې خو دې ځاله د يوه ښکلي سباون ده
را ويې لېږه دوږه د تيارو را لټېدلې

عجيبه کيفيت دی دونيا ټوله ګنم بې عقله
ستا زړه پورې نيولو ته مې لو را لټېدلې

شبنم شه د شفق په پسته غېږ کې را پټی شه
چې بل رقم مې تنده د اوبو را لټېدلې

نازکه غوندې مينه مې زخمي زخمي پرته ده
نازکه سره غوټۍ ده په ازغو را لټېدلې

قسم دی دا څو ورځې مې بيخي سترګو کې کرځي
له زړه نه مې قسم دی په لېمو رالټېدلې

خلک هسې وايي کومه ناروغي ده "کريمي"
په جسم کې مې مينه د منو را لټېدلې

غزل

خپه خپه راغلې،دشپې په نیمایي راغلې
قسمته څرنګه کچکول خالي خالي راغلې؟

د وخت ذاهده!چې خُمار تر میکدې راغلې
دا له دې خپلې عقیدې نه ازاري راغلې

د درک څوک نه و درد مې مار غوندې ساته اوجود کې
په ما سکتې له خپلې کړې خاموشي راغلې

د بې وسۍ په اور سوځلې پیغلې حال ووایه!
په دې دوډۍ کې دې کوکۍ د مات بنګړي راغلې

د جبر باد ځینې اخستې وه رڼا په غېږ کې
د وخت ډیوې زخمي زخمي له تاریکي راغلې

زما لیمه به دې قدم قدم ته ایښي وي جار!
که په دې لاره کله هم په نا پامي راغلې

درسره ایښي دي په څنګ کې د یارانو ګلان
په دې تصویر کې"کریمي"څومره عالي راغلې

غزل

سکوت غوغا وکړله،لالی مې ویادېده
زړه مې هوا وکړله، لالی مې ویادېده

خدای مې په زړه پټی کړ،عجیبه خوند یې وکړ
چیغه مې واه! وکړله، لالی مې ویادېده

زخم مې وسوځېده، لکه په مالګې باندې
سندره چا وکړله؟ لالی مې ویادېده

هغه چې ناست و راته،او ما یې مخ ته کتل
سپوږمۍ رڼا وکړله، لالی مې ویادېده

دغږ شیرین لذت یې،کټ مټ هم هغسې و
یوچا خندا وکړله، لالی مې ویادېده

د بنجاره دوکان کې،مې له ملګري سره
یو ځای سودا وکړله، لالی مې ویادېده

"کریمي" نه وریږي بې له وریځو اسمان
ما چې ژړا وکړله، لالی مې ویادېده

غزل

درېسې دربه شم اشنا که درېسې نه شمه؟
زه به رڼا شمه رڼا که بیا ایرې نه شمه؟

ګمان خو نه کوم چې ځاځي دباران مې مور کړي
که برابر چرته په ښې مستې چینې نه شمه

زه دومره بد یم ابدي درنه مخ وانه ړوم
زه دومره ښه یم چې ملګری دي نیږې نه شمه

ته دومره خوږ یې په قدم کې دي ګلان کیږي
ته دومره خوږ یې صدقه دي له نامې نه شمه

خدای خو دي داسې کړي چې ته لکه ډېوه بلېږې
زه دومره غرق شم چې ستي دي له لمبې نه شمه

بیخي ډارېږم چې ولاړ سات نشم وه شیرینه
بیخي ډارېږم چې خراب په دې بچې نه شمه

"کریمي" سخت به لکه تږې ونه مات مات شم
که هیڅ اوبه د خپل لالي په اسرې نه شمه

غزل

دعا مې په لمنه کې زخمي راوړې ده
بې ځالې مرغکۍ ده کوم ښکاري راوړې ده

هنداره مې په جېب کې ده خو ښه ذره ذره ده
ډېره مې تر جبه صحرایي راوړې ده

په لوی هجوم د خلکو کې ځان ورک احساسوم
تر دې حده مې خپله تنهایي راوړې ده

څه مسته تنده راغله تاب یې نه شمه لرلای
لمن مې لکه جام داسې ساقي راوړې ده

هغه په دعا کانو باندې غوارم بیخي ډېره
قسمت راباندې داسې بېوسي راوړې ده

په ما باندې پرته درنه لمنه ده د شپې لا
د چا د غېږ لمر کومه رڼایي راوړې ده

د سترګو په ایرو کې "کریمي" ساتم رانجه
یوه ظالم تر سترګو سلایي راوړې ده

غزل

غمي لټوم لاس کې مې ایرو ته فکر نه دی
جنت غواړم ژړکو کې مې لمبو ته فکر نه دی

ته ناسته یې زما فکر داستا په غړیدا دی
ټول ماته کوري هیڅ مې په هغو کې فکر نه دی

مور شپې را لویوو تر سباوونه په درانه خوب
تر سر مو سوو ویلې مړو ډیوو ته فکر نه دی

زه راغلمه جانانه مکر بې له سترګو راغلم
ته وکوره آن شوی مې دغو ته فکر نه دی

احساس او فکر لویې وسیلې د انسانیت دي
راغلی چرته هم کوم دېوالو ته فکر نه دی

څو خلک لوڅ ولاړ دي خو نیم لوڅو پسې خاندې
عجیبه ده چې لا یې هم ځانو ته فکر نه دی

چې څرنګه په مخ کې د لالي"کریمي" ډوب شي
د ډېرو هیڅ د عشق دې پلوشو ته فکر نه دی

غزل

داسې پر هر ومه چې نور یې رانه زغم،ورک و
خندا خو څه کوې تمثِل یې رانه هم،ورک و

دبې درمانه زمانې ددرد کوټه کې ومه
زخم به خوړین شولو اوبه به شو ملهم،ورک و

مینه مو ډېره وه خو بس د فاصلو وجه وه
چې په مثال کې د حوا او د آدم،ورک و

د وخت صحرا کې لکه ګل ومه د تندې غېږ کې
هم باران نه کېده او هم رانه شبنم،ورک و

چې یوه شېبه به مې هم ونه لیده پرلپسې
له حافظې به مې تصویر د خپل صنم،ورک و

کرېمي"څه و یو غریب او یو عاجز انسان و
بس په خیالونو او سوچونو کې هر دم،ورک و

غزل

خوږلې مې دچا د زلفو ستنه ده،ای هی!
سینه مې څیرې څیرې ده خوږمنه ده،ای هی!

دنن وعدې سبا،او دسبا وعدې سبا کړي
دونیا څومره دوه مخي،دروغجنه ده،ای هی!

ګلابه ډکې سترګې دي قربان شم راغېږه!
څېره دي بیا له چا نه ګیلمنه ده؟ای هی!

چې وسوځي نو تا مې مخ ته نېغ ودروي
ما کړي له خپل هر زخمه مننه ده،ای هی!

دا ژوند څومره ډېر سترړی او.نیمګړی دی اُف اُف
دا لاره څه ډبرینه او اغزنه ده،ای هی!

په عشق پسې زمان دي خپل ړستوني بډ وهلي
نفرت باندې یې کړي سربښندنه ده،ای هی!

څه درد،څه زړه تنګون،څه"کریمي"نورې خبرې
ژوند څه دی مکمله ازموینه ده،ای هی!

غزل

بوی د مړې ډېوې حِسوم شپه یې خوري
کوم ایمان څڅېږي چې فتنه یې خوري

ماته مې باور او هیلې ښکارې کې
دوه شنې لمدې لښتې دې لمبه یې خوري

هره یوه بلا چې هیڅه ونه خوري
پوه شه چې احساس او صدقه یې خوري

ځان د یوه سړي په لاس کې ایښی دی
سترګو کې یې لوږه ده هغه یې خوري

ته ځاته تعویز د حِفظ وکاږه
سترګې دې خوږې دې آینه یې خوري

زړه مې شیطاني فکر نیولی دی
هر وخت په یوه نه،یوه بهانه یې خوري

مینه"کریمي" لکه نا حق قسم
خلک عادي شوي دي ساده یې خوري

غزل

د درد د شمعې مېنځ کې تاره!اخېر وسوځېدې
زما زړګيه ګنهکاره! اخېر وسوځېدې

نه باران وشو نه شبنم په سوندو ښکل کړې حيف دی!
ګله!له ډېره انتظاره، اخېر وسوځېدې

د چا دغم،تور جهنّم دې ځان کې ولې پرېښود؟
ورانه اوجوده!ناقراره! اخېر وسوځېدې

منزل و لرې تنده ډېره وه،سايه هم نه وه
جار!دې د عشق په لاره لاره،اخېر وسوځېدې

سندرې تولې د ګناه جامو ته ولوېدلی
هی!د هوس په اور سِتاره، اخېر وسوځېدې

په نفرت جوړ خلک د مينې اذان کله اوري
په ژوند مېنه موسيقاره! اخېر وسوځېدې

سرې سرې سکروټې دې دڅاڅکو پر ځای وزغملې
د"کرېمي"د زړه بهاره! اخېر وسوځېدې

غزل

د شپې په تاریکۍ به وي بدنامه لکه ما
احساس چې د غروب کوي ماښامه لکه ما

سوځلي چې د خپلې همدردۍ په اور کې دي
تېرېږي به له هرڅه بې سلامه لکه ما

یوې پیغلې وچه شوې یوه غوټۍ کته ویل یې
هی! څنګه قرباني ده وچه خامه لکه ما

چې سترګو دلالي کې یې جوړ کړی وي څه کور
باغي به وي د وخت له احترامه لکه ما

ورځ څرنګه بې غوره غوندي ښکاري لکه تا
اوشپه څنګه ستي ده له الزامه لکه ما

که وي دي له ځان مخکې کس مقصد چې شي هوسا
نو تږی به تېرېږي له ډک جامه لکه ما

جنت جنت شیبې به جهنم احساسوې
دونیا چې د یار مخ ته کړي لیلامه لکه ما

لالی به"کریمي" درته ښکلا شي د هرڅه
چې خپله حافظه ساتې غلامه لکه ما

غزل

د ورځې رانغلم ؟په غېږه کې د شپې رانغلم ؟
ژونده!له تا سره تر کومې حادثې رانغلم ؟

دچا په سترګو مې و دومره کلک ایمان راوړی
چې دخدای مخ ته مې په سستې عقیدې رانغلم

هوا! راته وایه!چې زه یې یادولم کنه؟
خیاله!ته څه وایې؟په خیال کې د هغې رانغلم ؟

ما زندګي په یوه مسته میکده تېره کړه
زه د زمان ددې جومات تر دروازې رانغلم

لکه ادم او حوا ورک وو په کلونو سره
ځان مې زما،زه مې دځان خواته نیزدې رانغلم

ښېښې مې پولی شوې د سترپا حد ته هم ورسېدم
خو تر یوې پاکې با احساسه زمانې رانغلم

رڼا پرست وم"کرېي"په رڼا مړ هم وم خو
قسمت ته ګوره!په قسمت کې د ډېوې رانغلم

غزل

په شپې مې ځان خوړلی دی،سهاره!زه در کړم یم
ما وبښه!قربان دي شمه یاره!زه در کړم یم

هی!درده!اخی!درده!په کولیو مې مهار کړې
اوبه دي رانه وکړلې پرهاره!زه در کړم یم

ګلان دي راته راوړل خو ما هیڅ ته ورنکړل
اوس څرنګه در وګورم؟بهاره!زه در کړم یم

د عِشق له جوماته دي نارې د مینې راغلې
چې بیا هم درنغلمه باداره!زه در کړم یم

نغمې دي د الهام له تاره اخستلې جار
خاموش مې کړې زما دذات سِتاره!زه در کړم یم

زیارت ته"کړیې"باید چې هره ورځ درتلمه
څه نه وایم د یار دمخ مزاره!زه در کړم یم

غزل

بس سپېره خاوره شي او خاوره هم ارزانه شي
چې بې جانانه شي،دونیا خو دي ویرانه شي

د ګل په څنګ کې اوسېدل که سرې ګل نکړي خو
ښه خوشبويي به يې په جسم کې روانه شي

د رېواجونو دا تیارې دي دار ته وخېژېږي
د عشق ډېوه دي په هر کور کور کې روښانه شي

د جنت رنګ يې په پوستکې کې څرګنده ښکاري
کومه څېره چې ستا د زکر ترجمانه شي

هغه دي زما شي چې تنه مې را ودانه شي
ګُمان خو نه کوم چې هېره دي له مانه شي

له عادي خلکو نه په شکو کې غورځاره شي
د سرو سیکه تل په زرګرو قدردانه شي

کرېمي "خدای ته دي د عشق په سترګه وکتل شي
او عشق دي زده د کائیناتو له اذانه شي

غزل

له تا سره ترلی مې دی زړه،ته خو لېږ کېنه
زخمونه به یې وچې کړي اوبه،ته خو لېږ کېنه

ژوند څه دی؟خو په لار باندې مزل دی او روان دی
عشق څه دی؟خو بس وخت دی د لمانځه،ته خو لېږ کېنه

طبیبه!اندېواله!شر کوي په نه خبره
دا زړه مې راته وکوره لېږ ښه،ته خو لېږ کېنه

قربان!لکه بلبله لکه زرکه را غېږېږه
خبرې دي شکرې کاندي خوله،ته خو لېږ کېنه

له بخته،له نصیبه،له تقدیره،کیله منه!
سرېه لېونیه غوارې څه،ته خو لېږ کېنه

مُلا!نن ییخي زیات پسې خراب یم محترمه
کیسې وکړه د حورو د واده،ته خو لېږ کېنه

زړګی د "کرېمي"لېونی شوی بې اختیاره
جار!دم یې یې،تعویز یې یې،هم ته،ته خو لېږ کېنه

غزل

پټلی روان یم د آسانو د کاروان شاته
کاروان ورکیږي او پریږدي را بیابان شاته

څېرې به خود راڅخه اړوي ګلان شاته
څه بې ایمانو ځان پټ کړی د ایمان شاته

درد،تنهايي،هیبتي شپه، او زخم زخم شېبې
له بې وسۍ نه غلی ناست یمه د ځان شاته

د انسانیت کاروان به خپله خپل منزل ته رسي
چې منظم شي یو انسان د بل انسان شاته

څه وچې خاورې مو لمدې کړلې په اوښکو کې
څه سوې کوکې مو رسیږي د اسمان شاته

لکه باغي لېونی څنګ ته ترې تېر شوی یمه
لکه یو ګلی مې پریښی دی جهان شاته

کریمي"هغه د هغه قسمت کې ونه خته
دچا دوعا چې به یې کړه د هر اذان شاته

غزل

اور به راته وواېي،رڼا به راته وواېي
هرڅه ته چې غږ کړمه نوم ستا به راته وواېي

څومره چې مې چیغې دچا نشتون پسې کړې دي
و که یې دېوال ته کړمه آ   به راته وواېي

ځمه!چرته لرې بیابان ته کډه کېږمه
کوندې چې حالت د زه او زما به راته وواېي

زه خو مې رویباره!له لالي همېش خبرېږمه
ته که راته نه واېې هوا به راته وواېي

دار ته مې هوس داستا د زلفو په تار پورته کړ
وېل مې مقتدي به شي مُلا به راته وواېي

تا ته مې وېلې د خندا و خو ته نه راغلې
ګل ته به ورته واېم خندا به راته وواېي

لاړم"کرېمي"د عشق جومات ته په اِمام پسې
دا چې بنکلی عِشق صفا صفا به راته وواېي

غزل

چې درېدلي څوک د مینې په لمانځه،نه دي
هغه خبر هیڅ له مانا د ژوندانه،نه دي

ماته له ویر او ځان خوړنې بغېر څه را پاتي؟
زه غرېدای نشم او خلک پوه په زړه،نه دي

وړه خبره نه ده!ځان په اوږو بار کړځوم
ځکه مې پاتې څه په رنګ کې د کاته،نه دي

ستا نوم مې واخیست او په تا مې عقیده وکړله
جار دي!خبرو کې مې شات نه دي،خواږه،نه دي

پکې راشنه یې!ستا له جسم نه خولې څڅېږي
زما له سترګو څڅېدلی نن اوبه،نه دي

بد نظر باسي،او د سترګو صفایي هم کوي
ستا د پله خاورې دي،درمل نه دي،رانجه،نه دي

"کرېمي"نه جوړېږم ځان راته ډاډه ښکارېږي
هغه مې هېره نه ده،هېر مې یې لیمه،نه دي

غزل

ورَغلی یم په مخ تورو گردو ته
ورکتای نشمه رینو آئینو ته

ورځ تر بلې را زړېږم رنګ مې ؤځي
ړنګ تصویر یمه لوېدلی یم اوبو ته

ته به لاړه شې مئمه ما په پرېږدې
د سوالګر غوندې ځنځیرو دروازو ته

ښه ضرور څه؟چې په چا سرې مېَن شي
ښه ضرور څه؟چې بیا ژاړي دیوالو ته

یوسف زاتې پیغلې واچوي لمبو ته
یو غضب دي وشي زمونږه رېواجو ته

عیاشي پکې صاف کفر دی راغلی
که لږ پام وشي د مینې ایاتو ته

چې د مینې،انسانیت زېږنتون جوړ کړي
"کرېمي"نجونې دي کېني کتابو ته

غزل

سوی قسمت به مې له سره برابر نشي
ته به را ؤنکورې زخم به مې ورنشي

د عشق غمی له سپېرو خاورو را اوچت که کنه!
بیا زه مُجرم یم که په شپه کې درته لمر نشي

واړه رنګونه به بې رنګه بې ښکلا وي ورته
څوک دي زما غوندې له ژونده مرور نشي

روح به مې ووځي او اسمان ته به هم ورسیږي
خو ځینې خلک به مې له ذات ځ را بهر نشي

مړ دي شي خاورې دي امبار امبار پرې ودریږي
هی! دچا سترګې دي دچا سترګو کې کر نشي

په یوه بل باندې له سوي به سره پړق وچوي
دا بعضې زړونه دي له زړونو نه خبر نشي

"کریې"ماته یې ارزښت لکه ایره داسې دی
دا چې غمی شي او په غاړه د دلبر نشي

غزل

زهر د مار او د لړم خوري،ژاړي
دغه سړی بیا دچا غم خوي،ژاړي

کله په نه خبر خپه وي رانه
کله زارۍ کوي قسم خوري،ژاړي

ددې ګلاب مُسکا د درد مسکا ده
د سوي لمر مخ ترې شبنم خوري،ژاړي

څوک د هوس سکروټو ودوداوه
څوک جنت ځان په جهنم خوري،ژاړي

لکه ماشوم په جو جار هم نه ده
دا زړه مې ورځ تر بلې زغم خوري،ژاړي

"کرېمي"ناست دی د مرګي شېبې ته
کله ځان ډېر،کله ځان کم خوري،ژاړي

غزل

د وخت د باد په مخ ورغلی یم سپېرې ایرې
بغېر له تا مې تولې هیلې دي ایرې ایرې

بیا کوم ظالم په اور پسې کړل کتابونه د عشق
بیا یې په پاکو صورتونو لورېدې ایرې

مودې به وباسې اسانه خو ولا که ووځي
زما په ذهن او په سترګو کې پرتې ایرې

ددغې پیغلې د زړه درد هیڅا درک کړی نه دی
پر مخ یې وچې دي په اوښکو کې لمدې ایرې

زموږ د قسمت د تناره دوړې کې شکه راتله
او د نصیب هره کاسه کې به مو وې ایرې

بیا ځل پخلی به د خوړو پکې په کرانه کیږي
له دېګدانه نه چې ونه باسې زړې ایرې

کریمي"اوس زړه کې په توره وینه وګرځېدې
زما د واړه ارمانونو د تنې ایرې

غزل

رنګ مې له څېرې لوېده او زړه مې له سینې لوېده
وخت دومره بد رنګ کړمه چې مخ مې له ائینې لوېده

خدای خبر ستا نشت و،او که بله یوه کیسه هم وه
خوند مې د ژوندون له هرې ورځې هرې شپې لوېده

دور د تیارو طوفان په غېږه کې راخستی و
لمر سپېږمۍ خپه وو،ستورې مات،نور له ډېوې لوېده

دلته د احساس په نوم دچا په زړه کې څه نه وو
بد نظر او بد ګمان په هرې رابطې لوېده

اور به یې اوبه کړ او سرې اوبه یې اور کړلې
هرڅه به په ژوند کې په یوې پاکې عقیدې لوېده

څه و ؟کرېې"خو له تا وروسته لکه تش کالبوت
واړه أمېدونه یې ذرې ذرې لوېده

غزل

نه مې په شوق کاوه او نه مې مزیداره کاوه
دا ویران ژوند مې بس فقط داستا لپاره کاوه

تمثلي دور و د زړه خبره نه ښکارېده
خلکو باور په څېرو نه،خو په هنداره کاوه

غوښې یې توی،زړګی یې مات،څېره یې ورانه کړه پرې
چا! چاته دومره انتظار په دغې لاره کاوه

ژوند پرست څه وو؟له واړه زخمه به هم وېرېدل
عشق پرست څه وو؟انتظار به یې تر داره کاوه

اوس د مستي او د زړګي له زوره ولوېدمه
هغه وخت بېل و چې مې تک داسې بیداره کاوه

ځای به مو هم ورکړ پخپله په قمیس کې دځان
او شکایت به مو هم وروسته له دې ماره کاوه

"کرېمي"هربار دومره خوږ لکه کبین لګېده
د یو چا ذکر که مې هرڅومره بې شماره کاوه

غزل

زخم مې زخم شي او بیا پکې اوبه شنې شي
په دې حالت به مې تناکې په دې زړه شنې شي

مینه دې دومره شي چې حد دې ورته هم تمام شي
ونې د کلو دې په هر یوه دېواله شنې شي

خدای خبر رابه شي کنه خو په دې ښه پوهېږم
چې زما سترګې به دې لار ته په کاته شنې شي

بیا دې دوعا نه بغیر هیڅه تر ما نه رارسي
ګله!چې کله مې شنې ترخې په قبره شنې شي

غوټۍ د هیلو مې درنې سیلۍ وهلې داسې
ګمان خو نکړم چې زما په ژوندانه شنې شي

کیف د جنت به خدایه څنګه وي قربان دې شمه
څه بلها کیف کوي لمنې چې د غره شنې شي

د نفرت اور دې"کریمي"لکه اوبه سوړ وي
دعِشق ونې دې د کلې په وره وره شنې شي

غزل

رېنه رېنه ستورې مې ونیسي رڼا راکړي
چې تصور مې تصویرونه راته ستا راکړي

درد دي شپېږې د ځنکدن راباندې ووینې خو
یوار نظر دي بېرته مړه اوجود ته ساه راکړي

خندا دي څه ده؟خو ګلاب مې کړي تازه مې کړي را
سترګې دي څه دي؟خو شبنم راکړي مُسکا راکړي

نورې خو نشته یو د رب اسرې ته ناست یمه چې
ګوندې ذره ذره راټول مې کړي او تا راکړي

نېتونه دومره د شیطان لاس ته لوېدلې رانه
چې هغه کړي ثوابونه مو ګناه راکړي

داسې به ونه شي؟چې زړه مې څېنې صبر شي
داسې به ونه شي؟چې ځان راته پناه راکړي؟

کرېمي"لاندې تر کمره هغسې مات مات ومړ
په دغې طمعه چې څوک لاس راته رسا راکړي

غزل

څمکه مې ورکه ده او هم رانه اسمان ورک دی
ته مروره یې له ما څخه مې ځان ورک دی

سپېره صحرا،د لمر تیزي،او یکې ناست دا سړی
یا ځینې ژوند ورک دی او یا ځینې جانان ورک دی

خلک د ژوند جومات ته نه ځي د احساس لمانځه ته
له دې جوماته دا مُلا ورک دی،آذان ورک دی

د دونیاګی بازار مستي خپلو څپو کې وړی
څوک په ایمان ورک دي،له چا یکې ایمان ورک دی

اُمېد مې مات د زندګي لمن کې چیغې وهي
د بې وسی په تاریکي رانه ارمان ورک دی

هر سهار ورک دی،هر ماسپښین او هر ماښام ورک دی
کړیې "څه دی؟خو په چا پسې بې شان ورک دی

غزل

ستوري راته خاندي اشنا غاړه راکوي
شپې سره تویږي رڼا غاړه راکوي

خوري مې خپل سپیره بخت او تالا باغچه د زړه
ښکلي چې راکوري سزا غاړه راکوي

عشقه! صدقه دي،کرم دي هرچا تا محبوب
هر نابلد کس په خندا غاړه راکوي

حِس مې کړ د کومې کوڅې ورې نجلۍ وړم
ته وا که الوځم هوا غاړه راکوي

وړۍ یمه هره شپه د چا دسترکو زه
هر شپه یوه نه یوه بلا غاړه راکوي

سوي یو بې حده"کریمي" په مړو ایرو
موړ ته به نو څنګه ښکلا غاړه راکوي

غزل

غېږ د لوېدلي لمر د ساه اورمه
د شفق زخم په غوغا اورمه

راشه! بیخي له خدایه لرې یمه
راشه! غېږونه اشتباه اورمه

یو د لالي د غېږ لا تږی یمه
کڼې دغسې خو دونیا اورمه

د موسم هر یو اندام ښیې راته
د ځُدایي په ذوق هوا اورمه

واه! له زخمونو مې خوَږ ولټېږي
خوږې خبرې چې ایتا اورمه

ماته د شپې ستړیا سندرې کوي
زه یوځو ستوري هر بیګا اورمه

د هسوېلیو بچې ژاړي پکې
کله چې هم خپله خندا اورمه

سترګې چې پټې کړمه بلرقم شم
یوځوک همېش په غېږ دچا اورمه

"کرېمي" زه یم آئینې هم وایي
مګر چې ولې ځان خطا اورمه؟

غزل

نو خود به يې وهلې چې بلا ته درېدې
په ذات کې دي سهار و ته پېکا ته درېدې

په سر دي دشپې ورځې پتنک خويه تاؤېدم
رڼاوې دي د مخ د نور ښکلا ته درېدې

زه داسې وم چې هرچا ته مې ښه خبره کړه
له ځکه مې خبرې بدې شا ته درېدې

زما سترګې به ونيودې تصوير د خپلې لور
چې ورې ترې نجونې به مې خواه ته درېدې

ما وليده قدرت د خدای په مستې نڅېدای
چې څنې د موسم د عشق هوا ته درېدې

راځه"کريمي" نه و هغه ور د هيڅ باور
چې هر وخت به حاضر تيار ته چا ته درېدې

غزل

ګناه په اور پسې کړه او ثواب،راواخله کېنه!
خبرې دي سندرې کړه رباب،راواخله کېنه!

چې صرف زه ملامت یم او که دا هم ملامت ده
قربان شم!مُحتسبه لږ حساب،راواخله کېنه!

لالیه!دبریا راز او تګلاره درته ښایي
قهوه پیالې ته واچوه کتاب،راواخله کېنه!

زمونږه عاجزانو زندګي څه،وه خو دا وه
درد ستړی کړه غم ویر او اضطراب ،راواخله کېنه!

حجاب سرداره کړي یې د ښکلو مستو حورو
جار!پېغلې سَتر وساته حجاب ،راواخله کېنه!

د مینې مُسکا کړ کړه "کړېمي"په سپېرو شونډو
د ښکلو خلکو مخې ته ګلاب ،راواخله کېنه!

غزل

هیلې یې وژلې،ارادې یې ماتولې
دلته یو سړی و خپلې پښې یې ماتولې

دَور پخپل ځان د غرور حد کاوه روان و
مخ ته به یې نه کاته ائینې یې ماتولې

بیا د وخت ذاهد د میکدې مخې ته ناست و
بیا یې پیالې اخستې سجدې یې ماتولې

خلک وو د مینې له مذهبه ځکه لرې
خاص د هوس تندې وې دلې یې ماتولې

څه و ؟تقدُس دچا د ښکلو ښکلو سترګو
اور یې سړاوه،دار،ځولنې یې ماتولې

شپې منګولې ورو ورو د رڼا تر غاړې وړلې
ورځې هغه ورکې وې چې شپې یې ماتولې

څه ځینې څهرې وې"کریمي"تاثر نه ډکې
څه کافرې سترګې وې توبې یې ماتولې

غزل

په لار خلکو ته لار ښيي نا بِنا اوس
سر چپه شوله تر دې حده دونيا اوس

شب پرستو يم په غېږه کې نيولی
هله!وژني مې را وَرَسه! ربا اوس

زه باغي يم د هوس له تقدُسه
ما ترلي ده په عِشق اقتيدا اوس

دچا سترکې او زلفان ځينې يادېږي
چې ممبر ته کله وخېژي مُلا اوس

چُپ ولاړ دی یو انځور د دېوال لاس کې
هرسړی دی له سړيو اشتباه اوس

چينارونه د طوفان په غېږ کې مات شول
کلابونو راړولې راته شا اوس

"کريمي"به دېر څه و خو هغه لاړو
بس مُريد دی ستا د سترکو د ښکلا اوس

غزل

خبر مه شه څوک د خپل احساس له حاله
بیا به سیوري ته ژړا کړي له اوباله

ژوند به وپېژني خدای به لا ورګران شي
که لږ ګوري څوک د سترړي مرغه ځاله

خوند دي اوري له دوو سترګو په غمبرو
نور دي څاڅکي څاڅکي څاڅي له جماله

حقیقت دی؛ خلک یو په بل کې اوسي
ځکه سیمه خالي نه شوه له جنجاله

په کالو کې چې دې ګل د غمو نه و
په تول کم به تلل کېږي اندېواله

مینه زده کړه او د ژوند په دښت یې کر کړه!
ژوند اباد کړه ددې مینې له کماله

غزل

سلګۍ به مې په ستوني کې مهاره کرځېده
او څرېکه مې په رګ رګ کې نوکاره کرځېده

د دور سترګې نه وې نو څېره به يې څه کتله؟
ذره ذره په کلي،کور هنداره کرځېده

سکوت و خاموشي وه کائينات به ټول ارام وو
بس يوه بله ډېوه به تر سهاره کرځېده

دا پيغله چې واده شوه نو له رنګه لاس په سر شوه
چې پيغله وه رنګونو کې سينګاره کرځېده

ژوند څه و؟د سکروټو بيابان و ييلې پښې وم
تنه مې پرې ستي ستي ازاره کرځېده

دې مور ته له خپل ژونده هم بچي وو با ارزښته
په شپو شپو به په کلي کې نهاره کرځېده

په ما به"کړيمي"انتظار اور کړه ټوله ځمکه
د سات ستنه به هغسي کراره کرځېده

غزل

که هرڅو ووتم دباندې د هوا په نیت
لکه سور رنګ خلکو پاللم د بلا په نیت

زه که اوبه دي که خواره دي چې د خپل وطن دي
صفا یې خورمه د جنت د اشتهاه په نیت

په دېواله باندې را څوړند سات ښیراوې کوي
هیڅا ونه ور ونه کتل مګر مدعا په نیت

هیڅ یو سړی به سهار پرېنږدي بې غېږي هیڅ
که اذان واوري لږ د زړونو د دربا په نیت

ائینه راوړئ! چې ربښتیا دي او که هسې څه دي
ماته د ځان سیوري راکوري د بل چا په نیت

"کریمي" ستا په زړه او ذهن کې اوسیږي مګر
ته به یې وینې کله کله د اروا په نیت

غزل

مقتول وجود دفن کوم بېرته په ځان کې خدایه!
دومره څوک نلرمه ستا په لوی جهان کې خدایه!

نه زلېخا ده دا چې وغواړي او خپله مې شي
نه زه یوسُف یم چې پاچا شم په کنعان کې خدایه!

څوک له اوښو او څوک له اور څخه ژوندي راوتل
څه یو پټ راز پروت و د عِشق په داستان کې خدایه!

تورې وریځې مو د زړه په چتر بار پرتې دي
سپینې اوبه ساتو د سترګو په اسمان کې خدایه!

موږ په تا کران یو عقیده مو ده ایمان مو ده دا
د مینې غږ دي اورو هره ورځ اذان کې خدایه!

نیمګړی ژوند مو کړه روښانه په رڼا د اسلام
او خاتمه یې اخېري کړه په ایمان کې خدایه!

ستا د رحمت په تغر ناست،زړه ته پیوند ورکوي
کریمي"تل ځې ستا جنت ته په ګُمان کې خدایه!

غزل

تر دوکان پوري سيکه ناچله ورم
تر مقصده چې بخت کله کله ورم

د وطن د درد په غېږ کې مې خپل درد خوري
زه په يوې ساه باندې دوه اجله ورم

رانه هېر شي ژوند چې څه و؟ څنګه و؟
تصويران چې دي د زړه له تله ورم

لکه سپک مرغه طوفان اخستی يم
وزر يو خوا وهم ځان په بله ورم

خدايه هيڅوا اوړه نکړه ورته تم
جنازه مې د خپل ځان پخپله ورم

"کريمي" لکه په ځان مې پرې زړه خوږ شي
چې يو پل ورانديې له بله پله ورم

غزل

د زړه په پرهرو کې مې ليکلې وای بايد
يوه مينه مې اوبو غوندې څښلې وای بايد

هغه راغله خو زه يمه خپل ذهن نيم خوړلی
رانغله چې په کوم وخت کې راغلې وای بايد

د مينې نوم به لوڅه او ناپاکه مينه نه و
اول هرڅا له زړه نه پېژندلې وای بايد

احساس د زړه په غره کې راچودلی وای بايد
څدايي لکه چينه ترې بهېدلې وای بايد

انسان ولې له بل انسانه تللی وای بايد
مرغۍ ولې په ونه څا ويشتلې وای بايد

پټۍ که په زاړه زخم وي هم مُأثِره وي
يوځل خو مې سينې پورې نيولې وای بايد

ژوند څه"کرېمي" شوی راته کډ وډ لکه دښت
يوه لار خو مې حتماً پکې ايستلې وای بايد

غزل

په وزرو مې اور بل دی، نه د تګ يم نه د ناستې
د زمان چلند بدل دی، نه د تګ يم نه د ناستې

د فِراق ازار را لوټي، مينه پاڼې پاڼې تو ده
ما په لاس نيولی ګل دی، نه د تګ يم نه د ناستې

مجلس تود دی خو په راز دی، زما ته سترګو ته کېږې
جوړ حالت مې را کنګل دی، نه د تګ يم نه د ناستې

په شته ځان کې آواره يم،پردی يم خو مکر نه يم
جهان ټول سره چل چل دی، نه د تګ يم نه د ناستې

له څيراغه حيا راشي،چې د زړه ډېوه مې مړه ده
هر ساعت لکه اجل دی، نه د تګ يم نه د ناستې

اراده د مزل شوې، په سکروټو او ډبرو
او زما نوبت اول دی، نه د تګ يم نه د ناستې

نا ضرور اذيت مې وخوړ، نا ارامه را تاؤېږم
ازار ډېر دی خو زما خپل دی، نه د تګ يم نه د ناستې

"کرېمي" زما به څوک وي؟چې شته بار راسره واخلي؟
بس په خدای باندې توکل دی، نه د تګ يم نه د ناستې

غزل

نه موسمونه پاتي کیږي نه هوا راکرځي
نه ژوند ماتل کوي او نه په شا دونیا راکرځي

نن مې دي بیا دیاد په څلي باندې شپه کړې ده
نن مې په جسم باندې بیا د درد بلا راکرځي

په تا که کله نېت د درد د اژدها راکرځي
په تا دي نه راځي هم هغه دي په ما راکرځي

کلابه!هسې،بې معنا مُسکا چا نه ده کړې
داستا په سترګو هم څېره د یوه چا راکرځي

د تصور دېوه مې بله ده د عشق په تېلو
دخیال پتنګ مې ستا د ذکر په رڼا راکرځي

وخت داسې لمر دی چې غروب وکړي بیا نه راخیژي
ژوند داسې لمونځ دی نه یې وخت،نه یې قضا راکرځي

هو!"کړیي"د زیوال باد په مخه کړی وړي یې
هو!په چا نه راکرځي هو!خالي په تا راکرځي

غزل

د خوږ زړه له درزا سره به څه چاره کوم؟
له دې سختي سزا سره به څه چاره کوم؟

سکوت یې په تیاره را ځړولی ډېوه وژني
دجبر له هوا سره به څه چاره کوم؟

نه کیږي زما نه مې حافظه راته پرېږدي
شیرینه یار! تا سره به څه چاره کوم؟

هم زهر راته ایښې هم د سترګو تلاوت
له دوه مخي دونیا سره به څه چاره کوم؟

دا مه وایه چې څنګه یې؟ او څه درشوي دي؟
خو خوري مې له بلا سره به څه چاره کوم؟

د مینې انتها راباندې سر وګرځاوه
د درد له انتها سره به څه چاره کوم؟

خدای خوږ دی په وړه وړه خبره راضي کیږي
د تور زړه له رضا سره به څه چاره کوم؟

دسات تک تک مې خوري"کریمي" داسې لکه اور
د وخت له تېرېدا سره به څه چاره کوم؟

غزل

د بې وسۍ لمن کې کړځوم د غم،خاورې
دچا په نشتون کې په لپو لپو خورم،خاورې

پرېږده!په باد باندې راغلې یم په باد لاړ شمه
پرېږده!چې واړوم په سر باندې صنم،خاورې

له تانه جار!زه به یې سترګو ته رانجه کړم ضرور
که په لاس راغللې داستا د هر قدم،خاورې

زه هره شپه دچا دیاد قبره ته ځم او راځم
زه هرشپه ترېنه را اخلمه راوړم،خاورې

ښه باورې یم چې غمې به ترې راووځي یو یو
که څوک د قدر په چڼ کیږدي ددې چم،خاورې

ته به زما نشې او لاړه به شې،لاړه به شې
زه به همداسې ارماني درپسې شم،خاورې

"کریمې"داسې و، او دا رنګه شو،دا رنګه دی
لکه دباد مخ ته چې څوک کاندي راجم،خاورې

غزل

د درد سکروټې مې پرتې دي په سینه،مرمه
لمدې لمدې زولفې را څنډ وهه چې نه،مرمه

زه هر سهار بیرته په نوي اُمېد ژوند پیلوم
زه مې په تېرو اُمېدونو هره شپه،مرمه

څه به دي وستایم او څه به دي کړم واه!زندګۍ
د انتظار په دار ځوړند،شېبه شېبه،مرمه

دچا ومخ ته مې ترلی نېت د ژوند د لمانځه
سلام به وانه ړوم ترڅو چې په سجده،مرمه

د بې وسۍ قُلف مې لوېدلی دی د ژبې وره ته
همداسې ګونګ لکه دا ګونګه ائینه،مرمه

سر مې دی ایښي د عُشاقو له سرونو سره
په عقیده کې هم دعِشق په کعبه،مرمه

کرېمي"وځپلم ښه د تقدیر ماتو کړښو
قسمت هم نکړمه خوشحال خپه خپه،مرمه

غزل

روښان ژوندون په شبګیرو او په تیاره وتړي
ښا!ضرورت څه ؟چې په چا پسې څوک زړه وتړي

عشق یوه کعبه ده چې له خدای سره واصِل کړي خلک
خدای ته نیژدې شي چې څوک نیت پرې د لمانځه وتړي

حالات د جبر انتها ته رسېدلي دومره
احساس دي ووژني د اور په سیخ دي خوله وتړي

همداسې وم،همداسې یم،همداسې پاتې یمه
لکه تصویر چې څوک ځوړند په دېواله وتړي

هغې ته وایه چې نظر لېونی شوی د وخت
هغې ته وایه تعویزونه دي شپېږ،اوه وتړي

څوک مو د زړه په ځمکه وکري ګولونه راته؟
څوک مو د سترګو په ورخونو کې اوبه وتړي؟

"کریمي"څه و؟څه دی؟څه به ځینې طمعه وکړي
ایله دي دومره شي چې خپل د درد لېوه وتړي

غزل

پاکوم اوښکې د یتیم یتیم ارمان،ژاړم
جهان په ما ژاړي او زه بیرته په ځان،ژاړم

څه په خوښۍ راغلم خو تا یوځل راونه کتل
او څه په سترو قدمونو یم روان،ژاړم

د قدمونو سره ګلان یې خلکو قتل کړل
زه په دې هسې مینانو د جانان،ژاړم

هې!ښوسۍ په ما اغوستې دي دوه رنګې څېرې
یوې کې ویر کوم په بله کې خندان،ژاړم

د عشق سندرې چُپې شوې د حسد په پنجه
د نفرتونو په مالت کې په اذان، ژاړم

بیا به دانه کې ورته خلک زهر ګډ کړي افسوس
اوس چې په ذات کې د اخلاص ساتم مُرغان،ژاړم

"کرېمي"سختو سختو ښېښو ژړا رانه وسته
خو دچا نشتون کې اوس بلرقم اسان،ژاړم

غزل

درد یم،زخم زخم یم،اوبال یمه لالیه!
ویر یم،ویښې ویښې یم،ملال یمه لالیه!

ورو ورو مُچومه د زیوال د وني پاڼې
یخ اور د خزان نری شمال یمه لالیه!

ته نه یې،خپل ځان هم رانه مخ دی اړولی
راشه لږ مې کوره په څه حال یمه لالیه!

ګل وم ګل ګل پاڼې شومه په طمعه د شبنم کې
مړ له ډېرې تندې د وصال یمه لالیه!

ژوند،او دونیا یوه شپه ده سبا ته آخرت دی
څه به انتظار ددې بل کال یمه لالیه!

ستا د یوه د یوه لید ارمان مې ستونې ته چاره ده
ستا د په خپلېدو پسې حلال یمه لالیه!

نه مې رنګ ته ګوري نه مې چیغې هیڅوک اوري
بس خو "کریمي"لکه دېوال یمه لالیه!

غزل

څه به وایم نصیبو کې؛زما بخت دغسې دی
ګل مې توی شي په لاسو کې؛زما بخت دغسې دی

مینه پالم،مینه وایم،او د مینې تږی یم
تږی ګرځم په اوښو کې؛زما بخت دغسې دی

دلالي زړه ته نه لوېږي زما سترګې زما وینه
هسې خوار یم په سوچو کې؛زما بخت دغسې دی

خدای مې ذهن کې ساتلی مګر نه مې دی پاللی
عشق مې ژاړي په رګو کې؛زما بخت دغسې دی

تاته وایمه چې ښکلیه! پخپل ځان باندې دي پام کړه
زه دي بایلم زه یم شېبو کې؛زما بخت دغسې دی

"کریمي" چې باران اوري هم په ما باندې نه اوري
خاوري ساتم په لیمو کې؛زما بخت دغسې دی

غزل

وزر مې سوځې د هوا په لاس کې اور وينمه
خدايه! اوبه راکړه دونيا په لاس کې اور وينمه

لکه نرى کاغذ راتاول يم پکې خاورې يمه
يه! ګلابه مخې ياره ستا په لاس کې اور وينمه

دا چې سوځلي پرې نازک او نازدانه پتنګان
څه راز ضرور دى د رڼا په لاس کې اور وينمه

په کوه طور کې غرونه ويلې دي په نور او جمال
نه د مالت نه د موسىٰ په لاس کې اور وينمه

لالى هم شک کوي چې کواکې زه تمثيل کومه
هاى! لس مخي نرۍ! ريښتيا په لاس کې اور وينمه

"کريمي" بل دى پکې اور د تور هوس او مطلب
کوښه کېنمه د هرچا په لاس کې اور وينمه

غزل

زما په سترګو کې دې لا پلونه پاتې دي
په دې ښیښو کې لاهم څو دا غونه پاتې دي

د زړه امامه داسې ولاړې لکه نه چې وې
ددې ولس دربانديې ډېر لمونځونه پاتې دي

مثلاً ستا یو تصور او یوه نرۍ مسکا
د ژوند په باغ کې مې دا دوه ګلونه پاتې دي

بخت دې کوڼه شه! څه ناخوالو ته دې ناست یمه
دونیا په ما باندې دې څه پورونه پاتې دي؟

زما جهان څه دی بې تا وه! باران خویه یاره
تندې ډېرې کړې وچ سنیدونه پاتې دي

مسکا دې ذکر دی خبرې دې تسپې د ذکر
ذات کې دې سم د فریښتو خویونه پاتې دي

ته یې منه مه! مګر زه داسې احساس کومه
ته وا په لاس کې مې داستا لاسونه پاتې دي

"کړیې" مور"منو" د شعر دا ښاپیرۍ او عشق
ما سره دغه د جنت رنګونه پاتې دي

غزل

د عشق مِمبر ته په اذان،پسې راغلی یمه
له ځانه ورک یمه په ځان ،پسې راغلی یمه

چاته اظهار ته مې تر اوسه داسې ګل ونه مند
په یوه نایابه ګلِستان ،پسې راغلی یمه

مخلوقه!مانه مې علت دبربادۍ مه پوښتۍ!
مخلوقه!بس خو په جانان ،پسې راغلی یمه

د پسرلیو سوې ساندې مې تر زړه وتلې
په پوهولو د خزان ،پسې راغلی یمه

کنې نو وخته به مې ځان ځینې ورک کړی و خو
دچا په سترګو په جهان ،پسې راغلی یمه

په چا مې وخوره ځواني؟په څه کې لاړه رانه؟
هی!په قسم چې په ارمان ،پسې راغلی یمه

کرېمې"غواړم دچا حُسن ته یې په بیه واخلم
د ښنو الفاظو په دوکان ،پسې راغلی یمه

غزل

څرېکې به زما په پرهرو راتلې
ستا پر مخ چې لارې د اوښو راتلې

خود به ماتو سترګو ته رانجه وې که
خاورې په هوا دچا د پلو راتلې

خلکو د ریبا په اور سوځلې وې
چیغې له دې چمه د سجدو راتلې

تا چې به لمدې زلفې را ځندوالې
ټولې هوا ګانې به خوشبو راتلې

خېر دی لېږ خاطر خو به دې کړی وای
لېږ خو به زموږ کره په شپو راتلې

هر اُمېد د درد غوندې خوږمه او
هیلې لکه اوښکې په لېمو راتلې

څومره فریښتې دې"کرېمي"ته جار!
ستا د ښکلې نوم په یادېدو راتلې

غزل

د یار کور ته ځې شماله؟ زه دي هم ملګری یم
ناخبر یې یم له حاله؛زه دي هم ملګری یم

یتیم پاتې یې له لمره درد دي وېښه شَفَقه!
د ماښام په زلفو تاله؛زه دي هم ملګری یم

ته که هرڅو نه خبرېږې،په ما زه دي زړه کې اوسم
که خفه یې،که خوشحاله؛زه دي هم ملګری یم

ته منګې ترې جوړوې او زه بل زړه ترې جوړومه
وه! د مړې ختې کُلاله! زه دي هم ملګری یم

دوه مخي مې فطرت نه دی که په اور که په اوبو وي
چې ته ځې پرې اندېواله!زه دي هم ملګری یم

جنتي حُسن دي ستایم دوزخي درد دي زغممه
بې پروا مه ځه! له خیاله؛زه دي هم ملګری یم

"کرېې" هم چې مخ کوري،"ښنکلی"سترګې پکې پرېږدي
په ګل لمره! همڅاله؛زه دي هم ملګری یم

غزل

شپه لګېده راته او سات په دېواله څڅېده
ستا دنشت زهر مې نري نري په زړه څڅېده

زه څڅېدم له دواړو سترګو لکه یخه ښیښنه
تر مخ مې اور ستا د بې رحمه پېلتانه څڅېده

ما ستا د مخ ترجماني پرې کړه ناکامه شومه
هغه څیراغ بلېده نه،ستا په نامه څڅېده

هاغه طبیعت مې اوس خراب دی هاغه نه دی پاتې
چې هره ورځ به پرې داستا د لید خواږه څڅېده

خوشبو یې هسې بهانه وه کنې داسې وه چې
په ګلابونو باندې عشق لکه اوبه څڅېده

"کرېمي" رنګ مې هم ستړیاوو باندې وڅڅېده
ذهن مې هم دچا د یاد په کاغذه څڅېده

غزل

شپه ده، راسره درد او داستا اندېښنې دواړه شته
یعنې مرګ حاضر دی چې رسۍ او چړې دواړه شته

سترګې مې راوغړوه زړه مې پکې وګوره
دې پیالو کې وینې او پخ شوې شیدې دواړه شته

څه ګناه؟ که دارنګه هر ښکلې ته په څېر ګورم
نیت کې مې پاکي او د قدرت کلمې دواړه شته

شک د جنت ولې وکړم؟ زړه مې ولې واچوم ؟
کور کې مې د پلار غېږ او دعا د ادې دواړه شته

سخته نوره توره وي که سپینه راته ووایه؟
مخ ته مې یو بل ژوند او بیلتون د هغې دواړه شته

ته د جنت حوره څه له هغو هم بهتره یې
لاس کې دي نکریزې او د ذکر تسبې دواړه شته

خواره بیوسي ده د قسمت لاس کې کړۍ کنې
ته هم دومره لرې نه یې ماپسې پښې دواړه شته

خیال د لالي، پام د وخت د جبر ریواجونو ته
زموږ د ژوند لمنه کې نینې او ایرې دواړه شته

راشه"کرېې" به دي د ذات په تخت پاچا کړمه
دلته ستا د ذوق رنک او صفا ائینې دواړه شته

غزل

ورو ورو رسېږم د زوال د مازدیګر څوکو ته
اوبه د درد مې رسېدلې د پرهر څوکو ته

راشه!د سپین مخ تجله وربانديې واچوه لږ
راشه د ژوند شپې رانه نه ځي د سهر څوکو ته

نفرت یو اور دی چې په زړه باندې تناکې کوي
عشق یو رڼا ده رسېدلې ده د لمر څوکو ته

ساقي جانانه!له درتګ څخه لوېدلی یمه
ساقي!وامې خله مې کړه یوځلې د کوثر څوکو ته؟

سوکه سوکه به لګه لوند لرګی دود دود شم پسې
د بې وسی انګار مې راغی د تبتر څوکو ته

ځان جنتي احساسومه چې دروکورمه
رنګ مې دي ورسي د هرخیال د منظر څوکو ته

"کریمي"څه به شم؟خو بس لګه سوځلي ایرې
د ویر سکروټه مې لګېږي د ځیګر څوکو ته

غزل

په هیڅ طوفان او هوا نه شوم راښول
خدایه! د زړه له بیدیا نه شوم راښول

د یوې تجلی په یوه مسکا راښول شوم
مګر په زور د دونیا نه شوم راښول

لکه باران پاش شوم په هره سیمه
ځان ته په ځان لکه تا نه شوم راښول

په سوړ سکوت کې د شپې ونغښتمه
په سترې غږ د صبا نه شوم راښول

زه ستا د سترګو نشې داسې کړمه
چې په یوې نشې بیا نه شوم راښول

په هر یوه کې پېل پېل پاتې یمه
د پاتې پلونو،له شا نه شوم راښول

"کریمي" خیال د شخصیت راښول کړم
کنې په سختې سزا نه شول راښول

غزل

خپل ځان مې په سترګو کې زندۍ را ځړولی دی
تار په مخ د زلفو لېونۍ را ځړولی دی

ؤمې پېژنده چې ښښتنه ده او نظر یې خوري
دا چې سور تعویز یې په مرۍ را ځړولی دی

دا پتنګ د سرې جذبې خولې وچوي تږی دی
ځکه یې لوند ځان په ډېوکۍ را ځړولی دی

ته په سرای کې ګرځې زما زړه کوټه کې مړ نه شي
مخ مې دې رڼا ته په کړکۍ را ځړولی دی

شپه راباندې یو کال شي او ورځ راباندې بل کال شي
پرېږده چې واسکټ مې په کړۍ را ځړولی دی

سوځې هم توربېږي هم او ورځ په ورځ ځان هم بایلي
بخت مې خدای د کوم ترون په ژۍ را ځړولی دی

مخ چې د لالي "کړیي" زه پکې ونه کورم
وایم نن حجاب چا په سپوږمۍ را ځړولی دی

غزل

داستا له غېږې چې را بېل شوه تېرولو ته شپه
لکه بلا جوړه شوه زما د زړه خوړلو ته شپه

زه ورته ناست يم د سهار د راتګ طمعه لولم
او دډېوې په سر مي ایښي بلېدلو ته شپه

ورځ کې احساس دا ستا د نشت په مصروفیت وژنمه
خو یوه لحظه مې نه پرېږدي ستا هېرولو ته شپه

لالی زموږ کره دی مخې ته مې ناست دی خاندي
خدایه! ته مه پرېږده نن شل ساعته تللو ته شپه

یو ښه مثال دی د جنت د پېژندلو "سهار"
یوه ښه فرصت کنه! د قبر یادولو ته شپه

سړی له ذهن نه راتول شي پکې زړه ته راشي
"کریمي" ښه بولم د زړه د حال ویلو ته شپه

غزل

لکه يو ستړی سات په زړه د ديواله کرځېدم
کرځېدای نه شوای په وچ زور باندې د زړه کرځېدم

ته مې پيدا نکړلې تنده مې څه ماته نکړه
که په درياب راکرځېدم که په وياله کرځېدم

نصيب مې دا و چې کېدمه په صحرا به کېدم
چې کله هم لکه باران،لکه اوبه کرځېدم

ته که يې هرڅه کنې ستا خوښه ده وه شيرينه!
د خوند او ژوند له لارې تاپسې را وکرځېدم

زه فطرتي د شعر او حُسن اذان خوان پيدا يم
زه به په باغ کې همېشه په لمرخاته کرځېدم

ما تقدوس داستا د نوم د يادولو کاوه
ستا د يادښت په ښاريه په اوداسه کرځېدم

"کريمي" نه وې ملامتې هيڅ رينې هينداري
زه مې د بخت او د نصيب په کرد سپيره کرځېدم

غزل

راباندې زهر شي د هرې موسیقۍ غږېدا
ډېره موده کیږي چې نه اورم د لالي غږېدا

چې غږېدم به داسې ډېر،ته به وې خوند يې کاوه
اوس رانه هېره نه شي خپله خُدايي غږېدا

دا انګېرمه چې زموږ ستوري غږېږي سره
د شپې مې هسې تږې ژبې ته راځي غږېدا

ستا ناز ادا لکه ثواب غوندي بيخي مقدس
ستا غږېدا لکه د روغې زندګۍ غږېدا

ملګريه! تا د تږو بټو احساس نه دی کړی
چې احسان بولي د باران او پسرلي غږېدا

ته را غږېږې نه زما له زړه دي ياد نه وځي
يعنې بې خونده به وي نور د"کږې" غږېدا

غزل

چې ستا دوه سترګې مې په زړه توی کړې
د ذات ځيراغ کې مې اوبه توی کړې

نن د موسم مهرباني داسې وه
نن باران څاڅکې څاڅکې "ته" توی کړې

موږ به په کومه بهانه خدای ښني ؟
موږ چې ښکې د لمانځه توی کړې

سهاره! ستا د سپينو وړانګو شغلې
ړاندو په غېږ کې د تياره توی کړې

دلته د تور هوس بد بويه خوَلې
ډېرو د مينې په نامه توی کړې

خوښې مې ډېرې ستا خوږې خبرې
لکه په چې کې چې خواږه توی کړې

"کريمي" رنګ مې د لالې داسې دی
لکه په سره ګل چې شوُده توی کړې

غزل

مقدسه رابطه ده؛ نه یې څه یم،نه مې څه ده
زما مینه ورسره ده؛ نه یې څه یم،نه مې څه ده

ښه په زړو سره پوهیږو،چې په یو بل باندې ګران یو
خو بس برخه مو سپېره ده؛ نه یې څه یم،نه مې څه ده

ورته ګورم ځان مې ګورم، پکې چوپه خوله ولاړ یم
زه تصویر دا ائینه ده؛ نه یې څه یم،نه مې څه ده

خدایي یې راته زده کړه، خدای مې ولید ددې مخ کې
مګر دا عجیبه نه ده؟ نه یې څه یم،نه مې څه ده

هم قلم ده هم خبرې،هم سکوت دی هم نغمه ده
زما ذات کې یې کوټه ده؛ نه یې څه یم،نه مې څه ده

یو ښایست دی،یوه تجلی ده،یو هنر دی یوه نړۍ ده
زما سترګو کې پرته ده؛ نه یې څه یم،نه مې څه ده

"کریمي" د ذوق ادې ده زما هر ذوق ترې قربان دی
خو بس یوه دغه کیسه ده؛ نه یې څه یم،نه مې څه ده

غزل

نه چې چرته روغ شمه او نه چې را اباد شم
پرېږدئ!چې پخپلو بربادیو کې برباد شم

مه کړه!چې قدم قدم دي ښکل کړمه په شونډو
مه کړه!چې ایرې غوندي له شا درپسې باد شم

تاته چې درکورمه درمل درمل راکورې
تانه چې مخ اړوم فریاد فریاد شم

کله کله ځان په دې خپل ځان کې محکمه کړم
کله کله خپلو اندامونو ته جلاد شم

څه به په دې کانو کانو زړونو کې درک کېږم ؟
څه به په دې ماتو ماتو ژبو باندې یاد شم ؟

خلک به مې هله په خبرو باندې پوه شي
کله چې په کلې او مالت کې اروانباد شم

بند یم "کریمي "دچا په تورو تورو زلفو
بې مرکه ګمان نه کوم چې بیرته دې ازاد شم

غزل

ستړکو کې مې شکې دونیا پرېوته
دا په ما د کوم رنځ بلا پرېوته؟

لرې مې ساتي له خپل لالي څخه
ذهن کې مې توره رڼا پرېوته

واخستې مچکې ترې پستو ګلو
ستا له پستو زلفو هوا پرېوته

زړه مې دي پښنو ته اچولی و
اوس پرې د زخمونو سزا پرېوته

دغه شاړ پټی به ګلان شنه کړي را
وړانګه که پرې ستا د ښکلا پرېوته

روغه ورځ مې وخوړه رنځور ماښام
جوړه شپه ناجوړه په ما پرېوته

تیت پرک حواس لټوم کرڅمه
ستړې اروا مې څکه هرخوا پرېوته

غږ"کړیې" چا پرې د هغې وکړ
ستا په مړه انځور باندې ساه پرېوته

غزل

تا به لرم چې تر څو زړه ولرم
ګل به پالمه چې اوبه ولرم

دوه ورځې تبې زېړ زېښنلی کړمه
څه به زور ستا د بېلتانه ولرم؟

چې ته مې څنګ کې نه یې هیڅ یې ګڼم
که د دونیا په سر هرڅه ولرم

حوري به هم مخونه پټ کړي رانه
چې ستا د ناز سترګې،بانه ولرم

"کریمي" ژوند او مستي نه دي مُهم
مُهمه داده چې زه"زه" ولرم

غزل

بد ذوقه شوم همذوقه یاره!خوند نه راکوي
له تا نه وروسته یوه هنداره، خوند نه راکوي

زه څوک لرم،زه څه واخلم ؟زه څه کوم پکې ؟
تېرېږمه له ډک بازاره، خوند نه راکوي

که نور څه نه وي فکر مې غلط وي نه مې خوري
یوه شېبه هم بې له کاره، خوند نه راکوي

هیڅوک نشته چې سر یې په اوږه کېږدم ویده شم
هیڅوک نلرم شپه کړاره، خوند نه راکوي

نه غېږه د لالي شو نه هم ځای د ځان ساتلو
له ژونده یم بیخي بېزاره، خوند نه راکوي

کنم"کریمي" ځان لکه نیم ژواندی سخت مریض
تمثل او دې ته ورته چاره، خوند نه راکوي

غزل

ستوري مرور دي د سپږمۍ ژړا راځي
دلته هره شپه سلګۍ سلګۍ ژړا راځي

تاته مې په وچې بېوسۍ ژړا راځي
ځان ته مې په ماتې زندګۍ ژړا راځي

هی!دغه بوډا ته یې تنکۍ جلۍ راوَړې
هی!له دې کلا څخه نرۍ ژړا راځي

ځان سره مې شتون کې دبلها خلکو زړه کړه
ماته مې دسترې تنهایۍ ژړا راځي

خلکو د ریبا جامه کې ونغښتله ټینګه
ځکه په پخې پرهېزګارۍ ژړا راځي

وخته!ته کرم نه یې چې په جبر کې مو وړې
ماتې مو کړې خپلې ککرۍ ژړا راځي

هسې یوه نظر دي"کریمي"ذره ذره کړ
مه ورکوه سترګو ته لګۍ ژړا راځي

غزل

مادخپل ذهن هنداره
ستا په فکر کړه داغداره

د نظر جامې ترې نغاړه!
زمانه شوله مرداره

څه ګناه ګناه مو وخورې
دچا غمه! ګنهکاره!

څاڅکې څاڅکې را څڅېږم
د اوجود له هر پرهاره

شپې!په غېږه کې دې مرمه
لږ مې یوسه!تر سهاره

عشق یو داسې رهنما دی
ړانده خلک کړي په لاره

کړېږي"ځان ته پرې دود کړه!
چې خوند واخلي له انکاره

غزل

دچا د زلفو باد وهلی غُبار
زما په سترګو کې لوېدلی غُبار

اها!راوخانده!چې ښه شمه لېږ
هله!قربان!زړه مې نیولی غُبار

دمات نظر او ماتو سترګو درمل
ستا له پله را لتېدلی غُبار

زندګي څه ده ؟لکه دغه ښیښنه
عمر پرې دغه پرېوتلی غُبار

د نفرت خاورې نه وتلی غُبار
دزمانې په مخ راغلی غُبار

چا مو په سترګو کې لیدلی غُبار ؟
چا مو له زړه دی پرېمنځلی غبار ؟

کرېمي"تانه وروسته څنګه دی ؟خو
دهوا مخ ته درېدلی غُبار

غزل

چې کله کله مې د خیال په ائینه ګورم
دچا څېره پکې راڅوړنده تازه ګورم

یوار کتو یې په ما ګرمه تبه راوستله
نه!نه!توبه!بیا دي بې تا تصویر ته نه ګورم

ما خپله مینه د مُلا تعویز ته وَرته کړله
د وجود غړي پرې له شا په عقیده ګورم

داچې له شپې او ترږمیو څخه نه وېرېږم
زه مې په ذات کې ستا د عشق بله ډیوه ګورم

قربان!راوګوره!ایمان مې ضعیف شوی ښکاري
قربان!راوګوره!په سترګو دي کعبه ګورم

څنګه به نه ویلېږم،څرنګه به ځان نه خورم
په ماتو سترګو چې د ځان مُجسمه ګورم

کړیږي"دومره را نږدې ده چې بس څه یې کوې
خیال کې مې ګډه ده په خوب کې هم هغه ګورم

غزل

حيران يمه چې ورځ کومه،اوشپه،کومه يَوه ده؟
تيارې په غېږ کې ورِی يم ډېوه،کومه يَوه ده؟

که زر پېغلې په څنګ ورسره يوځای وي رواني
په تګ به يې درښايم چې هغه،کومه يَوه ده

ړنده شان زمانه شوه دا درَک له خلکو ورک دی
چې مخ زمونږه کوم دی،ائينه،کومه يَوه ده

د عِشق په اِمام پسې د زړه اقتيدا وکړه
ايله به په دې پوه شې چې کعبه،کومه يَوه ده

هغه چې په بيلتون دچا کې سوځي ښه پوهيږي
چې اور د دوزخ څه دی او لمبه،کومه يَوه ده

نو خود ديار له زلفو نه هوا ده لونګينه
نو دلته د لونګو کرونده،کومه يَوه ده؟

په څنګ د "کريمي"به ستا د نوم يو توری ليک وي
هيڅ مه پوښته!چې زما خوار مقبيره،کومه يَوه ده

غزل

لکه ډېوه رپ رپ رېږم د هوا مخ ته
تنها ولاړ يمه د درد د اژدها مخ ته

څه به مې هېره شې،او څه به بیا راجوړ شم سره؟
هر يو انځور مې دي راځي جلا جلا مخ ته

د بې وسی په ځنځیرونو باندې بند لېونی
په ځنځیرونو کې دود دود پروت دی دڅا مخ ته

غرونه او غرونه فاصله ايښې زما مخ ته
ژوند مې تيرېږي ستا د ياد د خانقا مخ ته

ته دي را ورسې په مِثل د رڼا مخ ته
زه دي د شمعي غوندي ويلې شمه ستا مخ ته

بيکا دي هېره کړم سهار مې مخ ته ودرېږي
سهار دي هېره کړم راوکرځي بيکا مخ ته

هرڅه الِف نه بيا تر يې بېرته له سره وايم
کړيي"ناست يمه د عِشق دمُلا مخ ته

غزل

زړه مې سترې دی ستومان ګام په ګام لوېږي
لېونی نشم له ذهنه مې پام لوېږي

ستا ښایست به لکه مسته ورځ شي ختم
د نُور لمر به دې حتماً یو ماښام لوېږي

ځان ته وګورم چې کله ستا لایق یم
چې له خولې نه مې جوړ کړی سلام لوېږي

هر سهار راوېښ په لویې پښېماني یم
هر شپه مې له وجوده ارام لوېږي

زه د خپل غزل په غېږه کې ور پټ شم
چې هرکله مې د زړه د زور بام لوېږي

دې مالت کې پټې سترګې ګرځه ښه یې
کنې ییا درباندې هر یو الزام لوېږي

"کریمي" چې د یار سترګې چا څښلې
میکده کې یې له لاسو نه جام لوېږي

غزل

لوېږي داستا غم وربانديې غرونه ایښي دي
زړه ته مې خپل دواړه څنګنونه ایښي دي

وچ دي مکر بوی د اظهار اوس هم ترې راځي
بندو کتابو کې مې ګلونه ایښي دي

پېژني احساس او تقدس د خُدايي
چاچې د لالي په مخ لاسونه ایښي دي

لیک ورسره ایښی سکوت مه قاتلوئ
ځنګ کې د سړک چا څیراغونه ایښي دي

غواړم درنه لرې شم او بیا شمه پیدا
هره شپه مې لس لس قسمونه ایښي دي

ماته کوره وه لالیه! وګټه ثواب
خدای د قدرت لید کې ثوابونه ایښي دي

سترګې د هغې،رانجه او عطر "کرېږي"
ته وا چې تر مخ مې تول خوندونه ایښي دي

غزل

د هوس لوږه مې په ذات کې را ایساره ده
داچې ختلې مې په رګ رګ کې نوکاره ده

ما ته بغیر له تانه ځان پکې ټوک ټوک ښکارېږي؟
که دا دونیا ټوله ذره ذره هینداره ده؟

دا مې تنه ده،دا مې ساه ده،او دا هم زندګي
چې هره یوه اخلې،ستا مخې ته تیاره ده

دهوسونو ډېوې نیمې شپې ته هم نه رسي
دعشق ډېوه هغسې بله تر سهاره ده

هی!دا زلمی په څه ګناه په وینو لت پت دی؟
او دغه پېغله قرباني دچا لپاره ده؟

پښتانه خلک هر ریواج له دینه استي دي
پښتنه پېغله له هر جبره لاندې خواره ده

کرېږي"څرنګه؟په څه به بیا راجوړ شم وایه؟
ښیرا مې وړي د خپل جسم له ازاره ده

غزل

لت پټ، سپيره د پرې وجود جلا حصو کې پروت
ټوک ټوک تصوير يم په ذره ذره ښيښو کې پروت

سپينه څېره مې دي په زړه لکه سپږمۍ ساتلې
د سترګو رنګ مې دي ساتلی په لېمو کې پروت

دغه سړی مې تل په اور،اوبو کې وليد مګر
دغه سړی مې هيڅ ونه ليد دڅا پښو کې پروت

ګلابه!جار دي له دې ډنډو ډنډو سترګو شمه
شبنم دي نه ښکاري د شونډو په سرو کې پروت

ترڅو به نه راځې؟تر څو به تش په نوم ژوندی يم؟
ترڅو به داسې يم په نيمو اندامو کې پروت؟

ته به راځې خو"کړېږي"به داسې ونه وينې
اوس يې لا زړه پرې دی په ډېرو انديښنو کې پروت

غزل

خپلې اوښکې مې تېل کړي دي ډېوې ته
غلی ناست یمه له درده ډکې شپې ته

ستا اثر به پکې خامخا ښکاریږي
اوس له ډاره کتای نشمه څېرې ته

زه د عِشق احترام لره قایل یم
زه اکثره وخت تلوار کوم سجدې ته

ته چې ناسته یې له ماسره دا سوچ وي
لکه ناست چې یم د حورې ننداري ته

هو!عاشق یمه هو!بلکل منکر نه یم
هو له سره تېر یم خپلې معشوقې ته

کړیږي"خلک د خدای خبرې هیڅ کړي
څوک به څه وکوري ستا عاجزې خولې ته

غزل

سَوې سَوې چیغې اورمه له زاته
تر سلامه کله ځې؟د ژوند رګهاته؟

چې دچا د تقدُس شمال وهلي
زندګي یې شاته ایښې ده میراته

را غبرګه!پرهرونه مې رغېږي
جوړ له قنده،له درمله،او له شاته

د ژوند نیت به پکې تول عمر ترمه
که خدای ج بوتلمه د وصل تر جوماته

زه به څه د یوه لوېدلې کس همسا شم
چې ځواني مې په مات جسم ده را قاته

څه چې ځې نو،ورځه!مخې ته دي ښه شه
خدای ته وګوره!را ؤنه ګورې!شاته

"کریمي"چې انتظار رانه اوړ نه شي
دسات ستنې مې ایستلې دي له ساته

غزل

زما د وران وجود په هره یوه حصه کې،یې
څه مې په زړه کې یې او څه مې په څېره کې،یې

چیغه را وکړه!ما له ځان څخه چاپېر وغواړه
جار دې،طوفان کې،که اوبو کې،که لمبه کې،یې

نن بیا د ژوند لمونځ رکعاتونو کې کډ وډ دی رانه
نن مې بیا رسم د هر خیال په مُسله کې،یې

چې ورته وګورمه ته مې مخ ته ودرېږې
زما په سترګو کې پرته یې؟که ائینه کې،یې؟

ژونده حیران یمه چې څنګه دې تعریف کاندمه
څه په ګبینو،څه د زهرو په پیاله کې،یې

په اوږدو زلفو دې لونګ دانه دانه ترلي
که راشنه شوې د لونګو کرونده کې،یې

د ورځې لمر غوندې څارې د"کرېږې"پلونه
په توره شپه ورسره مله په ډیوه کې،یې

غزل

په ډکو سترګو او مات زړه مې غوښتې،ته مې غوښتې
زه مړ کېدم ځاځکې اوبه مې غوښتې،ته مې غوښتې

له هر لمانځه وروسته دعا د ځان وه هېره رانه
ستا د لید تږی ومه ته مې غوښتې،ته مې غوښتې

هسې مې سپک کړل مقدس او محترم لفظونه
عشقه! له هره سپک کاله مې غوښتې،ته مې غوښتې

دا چې دشپې په پلونو کرځېدمه "زه" مې غوښتل
دا چې وړانګې د لمرخاته مې غوښتې،ته مې غوښتې

ته وې په ځان کې د خپل ځان په ننداره کې ورکه
دا چې ائینې په دېواله مې غوښتې،ته مې غوښتې

کنګل جهان مې راکې وینه وه کنګل ساتلې
هو چې لمبې د تناره مې غوښتې،ته مې غوښتې

ویل یې غړ دي"کریمي" په"منو" چاته کاوه
ما ویل چې راغلې ته راو مې غوښتې،ته مې غوښتې

غزل

د ژوند په ځمکه چې مې شين د هيلو کر نه دی
دچا له غمه مې په زړه ختلی لمر نه دی

ستا له راتګ سره به بېرته ډېر ژر ورغيږي
تپ مې ژور دی مګر دومره هم ژور نه دی

مينه همداسې وي؟که زه لېونی شوی يمه
چاته چې ځان خورمه هغه هيڅ را خبر نه دی

دعشق جومات دی،دا په لاس کې خلک سرونه ور وړي
دا د هوس د لوړي دار نه دی مندر نه دی

چې تا هم وکتي او ژوند هم بيا راوکرځوي
کړيې"هرڅه دی خو دومره بختور نه دی

غزل

له زخمه مې اوبه د وچېدلو ،کله وې
قربان دي شمه ته د هېرولو ،کله وې

د صبر په اوبو به مې ښه کلک وای پرېمنځلی
افسوس زړه!له سینې د راستلو ،کله وې

تنکۍ هیلې مې هغسي په سترګو کې غړېږي
که هرڅنګه وې داسې د وژلو ،کله وې

یو څو به مو د زړه له زوره کش کړې په قلم
دزړه خبرې ټولې د لیکلو ،کله وې

دا ځینې ژړاګانې بې معنا کله کېدې
داځینې ځینې چیغې د زغملو ،کله وې

څه چل خو دي ښکارېږي په څېره کې"کرېمي"
کنې مخکې له داسې رنګ زېښبنلو ،کله وې

غزل

سپېږمۍ را غوړېدله، کهکشان را غوړېده
څه خوږ شانتې منظر و چې جانان را غوړېده

زما په په تندې نرۍ خوله شوله را ماته
جومات کې چې د عِشق به اذان را غوړېده

خوشبو دچا د عطرو یې له ځان سره راوړه
خوند خوند کې به نرۍ نرۍ باران راغوړېده

په رینو رینو اوښکو به یې ژبه لمدوله
په ډنډو ډنډو سترګو به ګرېوان را غوړېده

بس ماته به یې هره یوه خبره نصیحت و
قربان!چې په مجلس کې به یاران را غوړېده

شېبه شېبه شېبه به راته څوک را یادېده
قدم قدم قدم به دچا شان را غوړېده

نه پوه و،نه عالم و،نه طبیب و،"کریمي"
یوازې له احساس او له وېجدان راغوړېده

غزل

خامې شپې مې پخې نکړې په نظر خپل
زه یم زښته ډېر قرضداره د دلبر خپل

د لالي د غېږ د طمعې انکار سوړ شو
تر خپل ځان را تاوَوم بیرته څادر خپل

تا ویل زړه دي زما له خوا نه یوسه؟
سپک وجود به څنګه وخوځوي غر خپل

په مثال بیا د ناچله سیکې کیږي
هرسړي ته حیثیت مه ړده د باور خپل

په بیدیا کې د وچ شویو بوټو بوی ځي
ګلابونه راشنه کړي سمندر خپل

د ایمان په ویاله ناست یم وجود مینځم
چرته رنګ که کړم صفا د مقدر خپل

"کریمي" کوندې تر ما پورې مې یوسې
پښې مې نشته په لاسو کوم سفر خپل

غزل

ماښام دي رینې شي د ډېوو په نوم
چې شفق مړ نه شي د شپو په نوم

زما له ډېرې تندې سترګې پټې
زه زهر هم څښم د اوبو په نوم

ما پکې مینه او درک وپېژاندل
زما نړۍ شه د "منو" په نوم

حیف چې د حِس خوند هم بې حِسو یوړ
خلک ترخه خوري د خوږو په نوم

هو ارمانونه مې یېخي ډېر دي
خو پېژنم یې د ایرو په نوم

مقدس دومره دی چې حد نلري
عشق باید وشي د سجدو په نوم

"کریمي" موږ له خپله مخه پردي
ائینې شوې د دېوالو په نوم

غزل

کړ مې د اصلي ګل په شبنم کړی،کوم يې
زړه باندې مې ستا د عشق کرم کړی،کوم يې

رنګ ساتي د وچ غره په لمنه کې چينې نو
ځکه مې تل خيال ايتا د غم کړی،کوم يې

اخلمه بوسه ترې که تصوير کې هم ګلاب وي
حُسن ته نظر مې محترم کړی،کوم يې

خدايه! هيڅ مخ نه شو را پيدا د ښکلولو
ستا د ښکلولو مې قسم کړی،کوم يې

هرڅه د بې خدايه خدای راغلی يو نعمت دی
ستا مثال مې زخم ته ملهم کړی،کوم يې

زه لکه په زور په مخ روان ددېوال سات يم
ټک ټک درد مې جسم کې هر دم کړی،کوم يې

ورک"کريمي" راولي په لنډه لاره ماته
ستا په دوارو سترګو کې مې دم کړی،کوم يې

غزل

لکه رڼې ستورې له اسمانه سرې وغوځوي
بې وسې څه ده؟خو له ځانه سرې وغورځوي

ځینې څېرې لکه تاپه په زړونو ولګیږي
او ځینې سترګې له ایمانه سرې وغورځوي

د هوس لوږه ده دنس له لوږي ډېره زیاته
دهوس لوږه له ویجدانه سرې وغورځوي

د مجبوریت رینبي دي خدای تر هیچا نه رسوي
په ډک مجلس کې به عیانه سرې وغورځوي

د تهمت سترګې راشنې شوي د زمان په مخ کې
همدغه سترګې له چا چانه سرې وغورځوي؟

درد له هر خونده له هر رنګه سرې لرې کاندي
غم له رباب او یه قربانه سرې وغورځوي

بعضې خلک وینه وي چې وینه له رګونو ووځي
"کریمي"ومري او له ساه نه سرې وغورځوي

غزل

نه په مزه کې وه او نه هم په بنګلا کې وه
زندګي څه وه؟خو په سترګو د یو چا کې وه

لکه یققوب مو و له خپل اولاده درد اخیستی
لکه یوسف به مو له وروڼو شپه په څاه کې وه

خیال،تصور مو د جنت په مینارو ګرځېده
مسلماني مو را نغاړلې په ریبا کې وه

مساج رقمه مې په ستړي اوجود ولګېده
مهرباني دي را لېږلې په هوا کې وه

مینه کعبه وه تقدُس یې عقیده کې کېده
او عقیده یې جوړه شوې په رڼا کې وه

ما په خندا کې هم قسم په خدای لیدلې نه وه
څومره مزه چې دچا مخکې په ژړا کې وه

"کریمي"هر یوه هسویلي سره رایاده وه
راکډه شوې مې په ذات کې او په ساه کې وه

غزل

ورځې پرې تېرې شي او شپو ته خلک نه کېني
اوس بې مقصده رابطو ته خلک نه کېني

ښار د تیارو دی شمالونه ترږمی وړي راوړي
رڼا مقتوله ده ډیوو ته خلک نه کېني

راځه!دېواله!سره غاړه غړی وملانځو شپه
دلته زما او ستا کیسو ته خلک نه کېني

عجیب غربېږي دا چې ولې راته مخ ته ناست یې
د ګلاب سیوري ته،خوشبو ته خلک نه کېني؟

لږ څه اقدام هم ضروري وي د زړه سره قربان!
ټول عمر پاتو اِرادو ته خلک نه کېني

هی!کرېږي"ما په څو ځله د ځان ښښې نیولي
په داسې حال چې دچا ښښو ته خلک نه کېني

غزل

یو ځلې وُځښنه د مینې په پیاله،اوبه
بیا ورته وګوره چې څنګه کړي مزه،اوبه

مهرباني،او شفقت او محبوبیت،وګورئ
دچا له پښنو څخه راځي چینه چینه،اوبه

د درد بحرې مې را وُ اوري د زړه په ځمکه
څاڅکې او غوټه مې را رغړي په سینه،اوبه

راشه! وروستی سلګی به دېرې ژر راورسیږي
راشه!چې نلرم په ستوني کې دانه،اوبه

چې د لالي پکې یوه کوته لمده شوې وي هم
ماته شفاء دي له دواوو نه هغه،اوبه

جنت به څرنګه په خپل قسمت کې نه ګڼمه
زما په رګ رګ کې چې وایي کلمه،اوبه

د مینې رنګ "کړیي"کړه کړي خوشبو وربانديې
کنې عطر څه دي ؟خو بس دغه ساده،اوبه

نظمونه

په تا دي هيڅ نه کيږي

په تا دي هيڅ نه کيږي، ستوري دي په هار کې دي
شپې دي ولاړې ننداري ته په قطار کې دي
مخ دي رينه سپوږمۍ ده هار ورسره خوند کوي
واه! ښايستونه خو دي واړه په اختيار کې دي
تاسره شپې کول د بخت شپې دي ښايستې شپې دي
په تا دي هيڅ نه کيږي، تا باندې خوږې شپې دي

په تا دي هيڅ نه کيږي، ته لکه باران داسې يې
ستا په وصال ډېر تږي بوټي غواړي ژوند وکړي
ستا په ليدو سره د زړونو کرد غبار پاک شي
چې تاته وګوري سړی هغه وخت خوند وکړي
تاسره غېږه کې د مينې کرامات خاندي
په تا دي هيڅ نه کيږي، تاته کائينات خاندي

په تا دي هيڅ نه کيږي، سيوری دی هم روح لري
دا روح د سيوري نه دی دا د يوه انسان روح دی
که په تا څه کيږي حساب به يې بيا ته ورکوې
يو نازدانه روح دی دا يو ښه مسلمان روح دی
تاسره ګرځي څکه تا سره ريشته لري دا
په تا دي هيڅ نه کيږي، لويه حادثه لري دا

د سیوري روح

په تا دي هيڅ نه کيږي، دا جهان به چرته ورمه
دا په ما ايښى او بار شوى ځان به چرته ورمه
اوس خو خاطر دى ستا،چې هرڅه کيږي هيڅ نه کيږي
که ته ونه اوسې دا لوى اسمان به چرته ورمه
هرڅه به هرڅه شي هيڅ څه نه به بيا ونه وځم
په تا دي هيڅ نه کيږي، زړه نه به بيا ونه وځم

په تا دي هيڅ نه کيږي، اې! دا ده ريښتيا خبره
د وجود غړي مري ټول بس يوه ده د ساه خبره
مثال يې ته زما لپاره يې چې تل به يې
په ياد يې ولره خپل ځان او بله دا خبره
راته به سختې له اذيته ډکې لارې شي
په تا دي هيڅ نه کيږي،خون به در لغاړي شي

په تا دي هيڅ نه کيږي، ماته د سړي سخته شي
مثلاً بې زړه او بې درکه زندګي سخته شي
زما درک هم ته يې او.زړه مې هم له تا سره دی
نشت به دي خداى مه کړه بيخي په "کړيې" سخته شي
خبره دا ده چې بې ما کيږي بې تا نه کيږي
په تا دي هيڅ نه کيږي،ياره چې دونيا نه کيږي

زما مینه

زما مینه زما سیوری زما وینه
په ځېره کې زما رنګ خوله کې شیرینه
زما مینه مقدسه مُاذِنه
زما مینه تر ما زیاته مې همدینه
خلک وايي عبس وايي عجیبه ده
زما مینه پښتنه ده رسوا نه ده

زما مینه، منجوره د زیات مې
په قبره به مې ګلان له ګرده ساتي
خپل ټیکری به یې پرې پاک وي هوار کړی
دغه خاورې به د یخ له درده ساتي
زما مینه یوه نایابه ننداره ده
زما مینه پښتنه ده رسوا نه ده

زما مینه د لار څنګ کې ګلدانۍ ده
هر سرې ته ګلان لاس کې ږدي مسکۍ ده
خوشبوداره حُسنداره معززه
هر یوه مخ ته په شونډانو ور پټۍ ده
زما مینه بې مطلبه ده خوږه ده
زما مینه پښتنه ده رسوا نه ده

زما مینه یوه معلمي انجلۍ ده
زه یې شاګرد یم دامې دنده کورنۍ ده

زده کوم یې هم او غوږ هم ورته نیسم
هم کتاب ده هم ادب هم موسیقی ده
پکې ورک یم په رګ رګ کې مې پرته ده
زما مینه پښتنه ده رسوا نه ده

زما مینه د باران په ورځ ډېوده ده
بیا مې بل ده بیا په بیا بیا ځلې مړه ده
په څادر یې وچومه نه وچیږي
زه هم لوند یم دا هم بشپړه لنده ده
په لاسونو کې مې چوپه خوله پرته ده
زما مینه پښتنه ده رسوا نه ده

زما مینه د ښکلاوو ترجمه ده
ائینه ده،رڼ سهار ده، ننداره ده
خدایي ده،عقیده ده مُسله ده
جنتي ده،د ښایستو حورو نه ښه ده
په لمانځه راسره ناسته په جوړه ده
زما مینه پښتنه ده رسوا نه ده

زما مینه"کریمي" زما"منو" ده
چې نمونه د خدای د لویو قدرتو ده
لوی انسان ده لویه لویه همدردي ده
او ملهم د اوښو زلو پرهرو ده
یوه مستي ده یو جنون یوه افسانه ده
زما مینه پښتنه ده رسوا نه ده

مایوسي

خدای دي وبښه! غروب خوړلیه لمره
لکه ما دي ستړې ورځ په سترګو یوړه
مګر بیا هم پخلا نه شوه مروره
لړ شفق دي هم شپې پرې نه ښود تر ډېرو
های! دونیا ده په زړه څرنګه کافرَه
خدای دي وبښه! جوړه ټوله شپه ژاړو
او سهار مو بیا ستړیا غواړې له سره

خدای دي وبښه! زما ناچاره ځانه
په لالي پسې دي کړه ځواني قربانه
د نړۍ له ښایستونو نه خواه بدې
تل خالي لاړې له دې رنګین دوکانه
څو مرغۍ درڅخه مړې شوې په قفس کې
دا مرغۍ دي خلاسې نکړې له زندانه
خدای دي وبښه! نینې شوې او ایرې شوې
خو روان نه شوې د مینې له مکانه

خدای دي وبښه! اې ورکه مسافره
ویده نه شوې له سازونو د آبشاره
سوړ شمال دي سترګې پټې ښکلولې
په نري پښم به بیا شوې را بیداره
ته میَن وې او یو ناز د مینې دا و

خفه نه شې له دې نازه خبرداره
خوب راځي د ضرورت له تود بازاره
او مېَن تل وي باغي له دې روزګاره
خدای دي وبښه! اې سترې مسافره
زما خیاله او په لټه د نګاره

خدای دي وبښه! خبره مې کوله
دغه پورته مثالونه ټول زما دي
ستا په لټه ستړی لمر او مسافر شوم
ټول رنګونه د ژوندون رانه فناه دي
خدای دي وبښه! داستا ټولې اداوې
مکملې په حقونو کې زما دي
خواه مې بده شي چې هرڅه عبس ګورم
وایم صرف نیمایي ساه بدن کې ښورم

خدای دي وبښه! راځه راسره کېنه
لکه توره شپه کې نُور د سباوون شه
کټ کټ وخانده په غېږه کې را ړنګ شه
لکه زخم ته درمل داسې سکون شه
"کريمي" د ماضي څنګ نه راولاړ کړه
همدا ته يې نن،سبا،شه او پرون شه
خېر دی ډېر نه یوه شېبه راسره کېنه
خدای دي وبښه! راځه راسره کېنه

ناهيلي

يو هم نشته؛خواخوږي که تسلي ده
را په غاړه د خپل ځان ضيمواري ده
رانه پاتې رانه ورانه دا هستي ده
زندګي مې بند مرغه ده ازاري ده
نه باقي د زغم او نه هم د ژړا يم
دا چې "ښه يم"دا د زړه له زوره وايم

يو هم نشته؛زه،مستي او د موسم د غېږې وړم
رانه ورک دی د صنم د غېږې وړم
له آبشاره اورم غږ د معشوقې مې
حِسوم يې په هر دم د غېږې وړم
يو هم نشته؛ که هرڅو وايم چې دا يم
دا چې "ښه يم"دا د زړه له زوره وايم

يو هم نشته؛ مينه،درک،قدر د سَوو احساساتو
زهر نور پکې ګډ شوي په دې شاتو
د سجدو جامې لوېدلې دي ډېران ته
ګنهکار يو ټول د عشق په کراماتو
را پټ شوی له ډېر شرمه له مولا يم
دا چې "ښه يم"دا د زړه له زوره وايم

یو هم نښته؛ ته یا ستا کومه همنامې
چې خبرې ستا په سوچ ورسره وکړم
چې سینه کې لګېدلی اور مې مړ شي
او زه بیا شروع د ژوند بله کیسه کړم
همدا وایمه چې ځان سره لګیا یم
دا چې "ښه یم"دا د زړه له زوره وایم

یو هم نښته؛احترام،سلام او مینه
مکر طمعه او اسره ډېره اړینه
ځیکرخون ورته ورکورم چې یې ګورم
د کلانو په رګو کې وچه وینه
تماشبین دداسې دوه رنګه دونیا یم
دا چې "ښه یم"دا د زړه له زوره وایم

یوهم نښته؛حوصله سکون او زغم نور
خوري مې مخ ته اخستلی هر قدم نور
"کړیمي" لکه د وچې ونې پانه
صرف قابل د سوځولو پاتې یم نور
په منګولو کې راغلی د بلا یم
دا چې "ښه یم"دا د زړه له زوره وایم

که پوهېدای

که پوهېدای چې څوک دچا لکه وجود کرځي
ما به ویلې ول چې چاته کتل سود کرځي
غلي پخپل ځانو کې کېنئ بهر مه وځئ!
بهر وتلي خلک سوي دي دود دود کرځي
که پوهېدای زه به له وتو کسو شمار نه وم
که پوهېدای داسې به سوی په انکار نه وام

که پوهېدای ما به جومات ته شپې راوړې وای
پاکې سندرې به مې دلته غبرولې وای
صف صف جمعت ته به احساس د خپل لمانځه کېدای
او وجودونه به هنداري کرځېدلې وای
که پوهېدای زه به ددې جومات امام ولای
که په هېدای زه به خپل زه ته احترام ولای

که پوهېدای چې لالی مکمل عذاب دی لوی
ما به اعلان کول خوږتوب بس اضطراب دی لوی
نه دچا درک شته او نه څوک دمینې ور شته نور
دځان وژنې یو لامل دا انتخاب دی لوی
که پوهېدای مینه مې بنده په کتاب ساتله
که پوهېدای مینه مې مخ ته په محراب ساتله

که پوهېدای چې ځینې کړنې ځوک بې عقل کړي
هر یوه کړنه به مې هر وخت ښه په پام کولای
خپل سری نه کېدم او داسې باغي نه ګرځېدم
دچا د سترګو به مې زښته احترام کولای
که پوهېدای لکه د پیر لکه طبیب به وای
که پوهېدای اول پخپل ځان مُحاسب به وای

که پوهېدای لالیه تاته مې کتل هم نه
که پوهېدای نو هیڅ ګلان مې خوښول هم نه
بلې دونیا ته تلم له هره زړه تنګون لرې
چې زنده سارې پکې آن لا ښکارېدل هم نه
که پوهېدای فقط له ځمکې سره تلم او بس
که پوهېدای زه به همدلته خښېدم او بس

که پوهېدای"کرېي" ګله نو ایتا به وای
غېږ به مې کړی وای ښکاره به وای رسوا به وای
ته به مې غېږه کې نیولی وای په جار باندې
خدای به راضي وای لوی ثواب به وای دعا به وای
که پوهېدای نو پورته واړه مثالونه به وای
خدای به مو ښکل وای نرم نرم شمالونه به وای

دجمعې شپه

دجمعې شپه ده! خلک سوال د جنتونو کوي
زه پټکې غواړم د خپل ورک مسیر رینې لارې
هاغه چې زه پټکې قدم قدم شیندلی یمه
هاغه زما په جنتونو کې پرتې لارې
خواه مې بدیږي په سجدو چې سپیرې پاتې دي
نه ورښکاریږي له کردونو د کعبې لارې

دجمعې شپه ده!بیا شاهد د اضطراب یمه
لکه نیم سوی وجود داسې په عذاب یمه
د یوې بېوسې نجلی سترګې مې په مخ ایښې
خپل ارمانونه مقتول ویښه خراب یمه
هیڅوک زما د سوي غږ سوځېدل نه حِسوي
بس خو اهونو ته مې ناڅي کونک رباب یمه

دجمعې شپه ده!اندیواله ته را څنګ ته شه
نن خو مې زښته په زړه اوري د ماضي ماخوستن
نن مې انځور د هر باندار په ذهن ځي راځي
نن خو اداوې د لالي راته کوي ماخوستن
هرڅه په نشت حساب دي نشته لکه نه چې و
حیران په دې یم چې ولې مې نو خوري ماخوستن

دجمعې شپه ده! دا یوه دعا به تاته وکړم
اې! زما ذهن کې ولاړې په لمانځه، نجلی

ورېم دي زه لکه د حوري بيان خوږ ځسوم
مثلاً حوره يې جنت کې مې د زړه،تجلی
خدای دي په تا د يخ شمال لاس هم ونه لګوي
خدای دي سرداره که د خپل کلي کاله، تجلی

دجمعې شپه ده! ددې شپې فضيلت ډېر دی بيخي
زه سواداپي يمه او هرځل رانه هېر دی بيخي
نه د ثواب په نيت راجګ شوم پکې وژړېدم
نه شوه رايادہ دچا غم کې مې ځان هېر دی بيخي
خو دومره وايم پکې خدايه ته مو وبښې
نور خو پوهېږم چې عذاب رانه چاپېر دی بيخي

دجمعې شپه ده! وه زما نه ناخبره ياره
شپې ته غوږ ونيسه او واوره د تيارې چيغې
څنګه په ځور ځينې ځی تېرې تېرې چيغې
اوس زما زړه هم لکه دغه تاريکه شوی
وه ډېوه مخې! لږ راووهه رڼې چيغې
ستا"کرېمې" د سباوون په اعلاج ومينځه
تړينه راوکاږه په سترګو دا دشپې چيغې
ځان سره پټ په زړه کې وروسته په جار ووايه
ما په ما ويښ کړه ماته داسې بار بار ووايه
دجمعې شپه ده!سوال قبلېږي
خدايه لالی ته مې ورجوړ کړې پرهرونه!

نصیحت

خپل تصویر کې ګورم سترګې پخوانۍ مې
لکه ستورې پکې اوسي زندګۍ مې
نه عذاب یې دنشتون پکې اثر دی
نه هم ګرده پکې ګرځي منوګۍ مې
کله کله سرې ووژني د زړه کار
خلک ښه وایي چې نه کار هلته څه کار؟

لکه مات څیراغ د خولې په هسویلې مرم
زه اوس داسې یم،په مازې شپالګي مرم
د وجود د بلېدا ظرفیت دا شو
لکه لوند خلی تر پایه په لوګي مرم
حیف په ځان کوم چې نه شوم د یوه کار
خلک ښه وایي چې نه کار هلته څه کار؟

په دېوال کې مې کرل یو وړوکی ګل
له اوبو نه محروم پاتې شو زړګی ګل
زما داسې تجربه وه څه نا پوه وم
ما ویل بې له اوبو به کړي سپرلی ګل
د ګلانو ازاري شوم نه شو ښه کار
خلک ښه وایي چې نه کار هلته څه کار؟

نه د ښائست دي او نه هم د تعویزونو
چې ازار را غورځولي دي د زړونو
دا سودا باید په ښه دقت ادا شي
دا ګناه ده د پوره دوو قتلونو
ما کښل لکه عادي لکه فالتو کار
خلک ښه وايي چې نه کار هلته څه کار؟

ستا د مخ په نور مې وسوځلې سترګې
کاش چې نه مې وای هیڅ هم درغلې سترګې
زه باور لرم چې بیا به جوړې نه شې
ستا په نور اوبه ځلا داغلې سترګې
نه اوبه کار ورکوي او نه رانجه کار
خلک ښه وايي چې نه کار هلته څه کار؟

اوس په شپه کې د وُړ سپوږمۍ په مثال یم
خپ لګېږم په لاسو کې د شمال یم
ځان په غاړه د زوال کورم حیران یم
"کریمي" پخپل حالت باندې ملال یم
چې راپور دی هم د عشق هم د لمانځه کار
خلک ښه وايي چې نه کار هلته څه کار؟

ګلابو!

د ناکامۍ مینې اور دي په ما بل دی
ګلابو! ژوند مکمل لکه اجل دی

اذانونو کې خیال ستا د حُسن راشي
په لمونځو کې رانه هېر قرأت دعا شي
غلی وخاندمه خدای رانه رضا شي
مقدسه عقیده مې را رسوا شي

اوس مې فکر لکه ستا زولفې ول ول دی
ګلابو! ژوند مکمل لکه اجل دی

های روژه ستا له دیدنه نه ماتیږي
دوه ساعته وي خو سل کلونه کیږي
په دې عقل به مې لا ټکه رالویږي
ستا له لیده که لا نور هم محرومیږي

چې خراب یمه کنه،همدغه چل دی
ګلابو! ژوند مکمل لکه اجل دی

که د سترګو شکې شمارم درته ډېري
دومره دي چې له حدونو لا دي تېري
په هر پله باندې لوېدلې پکې یو موټ
ته وا زما به شي دغسې هسې هېري؟

یاد مې ستا سره اخستی هر یو پل دی
ګلابۀ! ژوند مکمل لکه اجل دی

کاش چې نه وای ما او تا سره هم وینه
کاش چې وینه نه وای دغومره شیرینه
یا تر مینځ مو ریواجونه کافر نه وای
یا خو سترګو ته ښکاره نه وای حَسینه

هر یو"کاش" مې سَوی درد راسره مل دی
ګلابۀ! ژوند مکمل لکه اجل دی

ستا نه ورک"کړیمې" ورک دی په ایرو کې
کله کله دچا راشې په لاسو کې
بیرته ې خوشی کې چې دا خو تور سکاره دی
څه غمی نه دی چې ځای شي په هارو کې

بس! یو حیف دی او زما په ژبه تل دی
ګلابۀ! ژوند مکمل لکه اجل دی

فریاد

ختم کړی شک مې نیسي د یقین غېږ
هسې نه بیا په هرڅه باندې شکي شم
محبوبیت او همدرکي په اور کې دود کړم
او زه لاړ شم آواره شمه باغي شم
ځکه سترګې د احساس راته ړندېږي
غلی ناست یمه او زړه راته خوږېږي

فکر وکړه تنها دښته ده یوازې
لوی بڅرکي هم د واورې راوربېږي
یخ وي دومره چې کنګل کوي د وینې
یو سړی پکې روان وي او لړزېږي
نه څادر لري چې ځان نه یې راتاؤ کړي
او نه هم د کلي لوری ور ښکارېږي
همدا زه یم هیڅ سړی نه رارسیږي
غلی ناست یمه او زړه راته خوږېږي

خپلې پاکې کلمې راتوکې لاړې
چې د هرچا په غوږو مې کړې هوارې
هغوی ټولو په غوږو کې ګوتې ورکړې
های نو! ټولې یې په خاورو کړې غورځارې
سخت ازار یې په رګونو را ځِسیږي
غلی ناست یمه او زړه راته خوږېږي

د موسم اندیوالي وه یو څو شپې وې
زما سترګې د زړګي پکې خوږې وې
خبر نه وم چې زوال د هرڅه کیږي
خوږې نه وې زه بې حِس وم دوی ړندې وې
خپلې پاکې ارادې راته قهریږي
غلی ناست یمه او زړه راته خوږیږي

ستا په دومره احترام به لا قایل یم
ځکه ته نه یې زه خپله دا مشکل یم
ما منطق د انسانیت نه دی لوستلی
زه فقط دیوې ناپامې خولې دلیل یم
دا ریښتیا دي بې منطق دلیل ماتیږي
غلی ناست یمه او زړه راته خوږیږي

"کړیې" له "منو" نامې نجلی جار یم
دا چې اوس مې پخپل ذات کې را په دار یم
کله کله مې په دې خبر زړه ډک شي
نه یې یاد یم او نه هم ورته پکار یم
زه غرور د خپل صفا اخلاص نیولی
په همدې دې دې قربانی ته هم تیار یم
خو بس کله کله زور راکړي ولویږي
غلی ناست یمه او زړه راته خوږیږي

هیلې ته

هیلې! لاړې پوره نه شوې
نیمایي پاتې کیسه شوې
پینځه شپږ ځایه دې مات کړم
ماته ماته ائینه شوې
په تیارو دې حواله کړم
نیمه شمع وې ژړ مړه شوې
ارمانونه دې ساتمه
هیلې! خدای ته دې سپارمه

هیلې! وا زما نازولې!
په وجود کې مې شیدلې
هر ساعت درته ځوریږم
په دردونو کې لړلې
خامه ونه کې شوې پاتې
وچه لمر یې نینولې
هیلې! سترګو ته دې مرمه
هیلې! خدای ته دې سپارمه

هیلې! غږ د ملایکو
رانه ورک دی په لار ورکو
هر څوک وایي خوب کې اوسې
را په خود شه وه هلکو!

هیلې! ته په ما پوهېږې؟
ماته بې یې تر ملکو
نور نو اوړم له قسمه
هیلې! خدای ته دې سپارمه

هیلې! وا نایابه هیلې!
وا زما ثوابه هیلې!
ته نازکه وې پوی نه شوم
کړې مې هی خرابه هیلې!
ستا د نشت عذاب سوځلی
یمه نور بې تابه هیلې
حیف په خپل حالت کومه
هیلې! خدای ته دې سپارمه

هیلې! خوی دې د شمال و
پسرلی دې په سر شال و
زه دې ځان ته در مایل کړم
شېبې وروسته دې زوال و
ستا په نشت دومره غم نه و
لکه څه چې مې په حال و
هیلې! کاش تا وېل چې ځمه!
هیلې! خدای ته دې سپارمه

هيلې! سل کلونه بعد هم
هيلې!زر غمونه بعد هم
ته زما په زړګي داغ يې
وې به جوړ عمرونه بعد هم
"کرېمي" به تاته دود وي
سل رقم خويونه بعد هم
هيلې! نه دي هېرومه!
هيلې! خدای ته دي سپارمه
هيلې! خدای ته دي سپارمه

خوابدون

خواه مې بده شي!
خواه مې بده شي،چې خپل سیوري ته کورم
لکه ما داسې په نه زړه راسره ځي
پل په پل شاته ماتیږي په ډبرو
سترې سترې مات د ځمکې په سینه ځي
خواه مې بده شي!

خواه مې بده شي؛ولا چې خپ یې وینم
هغه ستوري چې د شپې به راسره وو
ټوله شپه به مو په شور وه راوستلې
ځیراغونه د سکوت به مو ټول مړه وو
نڅېدو به یوځای لاس په لاس رڼا ته
د جنون د لمر کوځر به را خواره وو
اوس هر یو خالي د خپل نُور رسېدلی
اوس له دغې دایرې نه شي وتلای
خواه مې بده شي!

خواه مې بده شي؛ پخپلو احساساتو
لا ژوندي دي بعد له دومره عملیاتو
وروستی ساه صرف پکې کښته پورته کیږي
او له ما بیا بیا د هرچا پښنو ته لویږي
بیا ماتیږي بیا ماتیږي بیا ماتیږي

بیا پښتنې نیمې ساه را ولاړېږي
زه بې چله یمه نه رانه رغېږي
د زخمي مرغه په څېر مې زره خوږېږي
خواه مې بده شي!

خواه مې بده شي؛ یېخي له حده زیاته
چې محروم دي یم د سترګو له ذکاته
غوارم هېر دي کړمه داسې چې په هیڅ شي
دې پرهر کې رانه تل ستنه شي ماته
بیا اوبه وکړي او ستا د غېږ دم غواړي
بیا شي دغه درد په دې زخم کې پاته
حیران ناست یمه ځواني مې شوه میراته
هیڅوک نه اوري غږ ویې کړمه چاته؟
خواه مې بده شي!

خواه مې بده شي؛ د هرسري په کونځو
وایم دا هم شاید تېر وي له سختیو
شاید ستوري یې ملګري د بانډار ول
شاید نه به و محتاج د ډیوه کیو
کونځې کیږي په څېره کې له ستړیاوو
او ستړیا وي ډېره سخته د زړګیو
خواه مې بده شي!
خواه مې بده شي؛ په مخکې راروان وخت
زه چې زه نه یمه څه به شي راګران وخت

"کرېږي" څو کاله مخکې لا مرحوم یم
مخ ته صرف راته ښکارېږي یو ارمان وخت
خواه مې بده شي؛ خو څوک د خوابدون شته؟
چې راته وايي زه ستایم،ستا سکون شته!
خواه مې بده شي!

له فطرته تر فطرته

زه بدل شوم،که بدله زمانه شوه؟
د یارانو چې توده مینه سړه شوه

ټول بدلیږي،طبیعت دی که خاصیت دی که نظر دی
پسلی دی که ګلان دي که منظر دی
ټیروتلي چې تل پاتې یې ګڼلي
او بایللی یې پخپله خپل باور دی
پښېمان دي چې غوړیږي له لذته!
ټول موقت دي له فطرته تر فطرته

د ګلاب ښایست د یوه یا دوو ساعتو وي
نازدانه د ریږ سهار په شمالو وي
چې غرمه وربانديږ راشي سر ځوړند شي
نه د رنګ پاتې وي نه د بویدو وي
دود یې خیژي له نازک نازک وضعیته
ټول موقت دي له فطرته تر فطرته

کړی ناز مې بیرته سرې سترګې را درومي
نازدانه ادا یې ماته وي راوړې
دونیا ټوله خودخواه هې په مخه کړې
اوس نو اوج ته د غرور د رسېدلې
زه خپل ناز ته یمه زښته ملامته
ټول موقت دي له فطرته تر فطرته

خوَږېدم د نابلدو په سلام هم
هر سړي ته مې له زړه و احترام هم
چې په جار به یې راغږ کړ چې یې څنګه؟
هم هغه مې د زړه درک هم و ارام هم
اصلاً دا عادت مې ښه نه و عادته!
ټول موقت دي له فطرته تر فطرته

ویل شوې سپارې بیاځلې وایم
زه دا ټولې خطایانې لرې بیایم
نور به نشمه ملګری د هیڅ ښکلې
نور مې سترګې په تسپو کې بندې پیایم
خو که زړه ځان ته کړه دا خبر جوته
ټول موقت دي له فطرته تر فطرته

غلې کینئ په ذهنونو کې هوسا ټول
فریب خور شوی په ساده ساده دونیا ټول
سړی هسې پکې وسوځې ناحقه
جهان سم دم کرځېدلی دی ګناه ټول
"کریمي" غم مې لیدلی له خوړلته
ټول موقت دي له فطرته تر فطرته

زما د فکر نجلۍ!

زما د روح زما د فکر اندېولې نجلۍ!
زه اوس خبر شوم چې په نجونو مې چې خواه بدېږي
دا خو زه نه یمه زما په روح احساس کې ته یې
راته غربېږې هم ته درک مې هم له تا سره دی
هم مې په خط کې یې او راته په لاس کې ته یې

زما د روح زما د فکر اندېولې نجلۍ!
جار! صدقه دې زه له ښکلې سپین جبین شمه
ائینې ټولې راته واه کوي حیران یمه
ته پکې ګورې او په تا سره رنګین شمه
د جنت بوی راځي زما له هغه سوري نه
چې پکې زه ایتا په سترګو کې راشین شمه

زما د روح زما د فکر اندېولې نجلۍ!
ښا! ما ویل چې زه دا ولې مینه ناک شومه
د زړه خبرې د سرې له مخ او رنګه اورم
بې تجربې داسې بادرکه شوم څالاک شومه
هو! دا اثر هم ستا د یوارې لیدلو و
زه هلته مړ شوم ته مې"زه" شوې بیا په واک شومه

زما د روح زما د فکر اندېولې نجلۍ!
اوس راته ګوره اوس خو زه پردی سړی نه یم

د سیوري روح

هاغه چې تا پردی ګڼل هغه مړ شوی دی
نا! زه هغه نه یم نا! هغه نه سړی نه یم
ځدایي پېژنم ایتا اننکي پېژنم
جنتي حِس لرمه کالبوت نه یم لرګی نه یم

زما د روح زما د فکر اندېولې نجلۍ!
چې تنها کېنمه خبرې دي د زړه اورم
جهان په بېله نړۍ پرېږدمه پردی یې کړم
شور د بازار شور د ژوندیو د شور نه اورم
د هوا وړم حِسوم لکه ایتا د رنګ
او موسیقي غلې د حورو د کاله اورم
ځان سره ووایمه واه لالیه واه ته یې
هو! همدا ته یې هو زما جوړه دونیا ته یې

زما د روح زما د فکر اندېولې نجلۍ!
ملګري وایي راته کېنه"کړیې" غلی
دا ته د چا سره غږېږې چې خاموشه شې
پرېږده په درد نه خوري طبیعت دي همېش وي غلی
زه ورته وایمه چې زه نه یمه خپله اوس
زما په ذات کې یوه نړۍ اوسیږي بله اوس
دوی هم ما درک کړي راته بیا بیا ځلې جار وایي
څوک راته یار وایي او څوک راته نِګار وایي
آن په یارانو دي لا ګران کړمه خوشحالې نجلۍ!
زما د روح زما د فکر اندېولې نجلۍ!

د یوه ښکلي سترګې

غم مې تا پسې ګول خو غم مې نه و
په مرۍ کې مې یتیم زګېروی دمه و
ښایستونو ډکې سترګې را کتل او
اور نازل زما د هیلو په کاله و
رانه هېر وو که لاسونه که پښې وې
د یوه ښکلي سترګې داسې معجزې وې

پوهېدم چې عبس وایم عبس کړمه
پوهېدم چې بیا کړیږم به له غمه
پوهېدم چې په صحرا کې دي وچیږي
دا ګلان چې زه په کوم باران کړمه
پوهېدم خو رانه ورکې تجربې وې
د یوه ښکلي سترګې داسې معجزې وې

هر غرور مې د ذات کور کې را ایرې شو
خدای مې ښکل کړ او وجود مې ور نیږدې شو
زه په زه کې ښکارېدم ذره ذره وم
اندامونه مې ټول مکمل ائینې شوو
واه قربان یې په مثال د فرېښتې وې
د یوه ښکلي سترګې داسې معجزې وې

ما څه نه پېژندل بې له خپله ځانه
زه ختلی چرته نه وم تر اسمانه
زه له دې نه هم خبر نه ومه دا چې
جهان څه باید حاصل کړي له انسانه
ټول را زده شول مکملې سیيارې وې
د یوه ښکلي ستړکې داسې معجزې وې

خپل خوبونه اوس په خپل تعبیر کې ګورم
پخپل ذات کې تر دې حده تغیر ګورم
چې ورکورمه رڼدې سترکې مې ځیر شي
او بیا مخکې پرې مزل او مسیر ګورم
په تیارو راسره بلې شوې ډیوې وې
د یوه ښکلي ستړکې داسې معجزې وې

زه یې واخستم او ور یې کړمه لمر ته
خدايي یې زما راوسته نظر ته
په غبار پوښلی راغلمه بدرنګه
ور ښکاره یې کړم اوبو د سمندر ته
"کرېي" د ځانګړتیاوو نښانې وې
د یوه ښکلي ستړکې داسې معجزې وې

درک

زړه مو پټ ساتو سره له زر خبرو
د وخت زړونه دي جوړ شوي له ډبرو
سنګساریږي پرې د سترګو مو هندارې
د احساس ایمان کې اوسې ګنهکارې
تت غړونه اندرون کې دفنوو ټول
په زخمو کې مو مقتولې دي کوکارې
لالی راشې خولې ته بیرته ژر هېر کړو
هېر یې نکړو خو د زهر یو غړوپ تېر کړو

د نظر په اور سوځلې یو ستي یو
موږ دوزخ په دونیا وخوړ جنتي یو
په تصویر کې دچا لویه خدایي ګورو
ولیان نه یو مُریدان مو د لالي یو
هسې داسې چې په خپل مخ کې خښنیږو
د هندارو په احسان باندې پوهیږو

غواړو وکړو تر خپل ذات پورې مزلونه
خو تر مخې مو راځي هسک او لوی غرونه
په لېمو کې مو ایرې راته بادیږي
ایرې نه دي وجودونه مو سوځیږي
ځکه دا سفر په شکو د بیدیا دی
موسم اوړی دی او لمر لاندې را تا دی

ګنهګار به يو خو دومره زيات هم نه چې
هر يوه کړي بارو درد راکړ بې حده
پخپل زړونو مو بې حده زړه خوږيږي
په ځانونو کې اوسيږو به له سده
هسې ولې دا ګناه را څخه کيږي ؟
هسې حُسن ته مو زړه را ويلې کيږي

سل خبرې دي خو ټولې چوپ ګونګې دي
يتيمانې مو ولاړې په مرئ دي
څنګه يې وکړو ؟ او له چا سره يې وکړم ؟
حيا دارې دي محرمې لکه نجلۍ دي
ډکې سترګې راته ګورې ځوروي مو
موږ دا ځکه نه چاغيږو چې تل خوري مو

د صحرا په غيږ کې شنه شو بې اسرې شوو
د سور لمر په سرو غرمو باندې نينې شوو
نه لايق شوو د اوبو او نه د سيوري
په ارمان د ارمانونو مو خازې شوو
"کريمي" مرګ ته شيبې شمارو څه حيف دی
ښه پوهيږو چې ګناه ده،بې مزې شوو

د یلدا شپه

سوکه سوکه بیرته پخپلو قدمو تیریږي
سړی تر دې حده خفه له زمانو تیریږي
تنها تیریږي او له غمو حادثو تیریږي
چې ماتې سترګې د اشنا په تصویرو تیریږي
ارمان ارمان ځي مالګه مالګه په زخمو تیریږي
ژوند یلدا شپه ده،او په درد کې د غاښو تیریږي

بې څوکه ناسته یم غواړم ځان مې په تا وغړوم
حُسن راکډ کړمه او مسته ښکلا وغړوم
دونیا په اور پسې کړم سمه یې زما په شان کړم
او تا په مخ ښکل کړمه خیال مې روا وغړوم
خو زړه مې بوج شي،وینه بنده په والو تیریږي
ژوند یلدا شپه ده،او په درد کې د غاښو تیریږي

په هرچا لاس اچوم نشت غلطوم پرې ایتا
زه داسې حد ته خپل نا پوه زړه رسولی یمه
خپل انځور کورمه او خاندم ورته وایمه چې
په دې سړي کې خو های کټ مټ زه راغلی یمه
یو لپونتوب دی په عبس عبس کیسو تیریږي
ژوند یلدا شپه ده،او په درد کې د غاښو تیریږي

نه د اذان په خوند پوهېږمه او نه د لمانځه
سوچ مې ستا مخ کې وي چې وکړم اراده د لمانځه
خدایه عاجز یمه زما به سزا کومه یوه وي
خدایه زه څرنګه اوس ورکړم جرمانه د لمانځه
های های کومه د لاسو په سوریدو تېرېږي
ژوند یلدا شپه ده،او په درد کې د غاښو تیرېږي

چې د لالي غم لېږکرار شي د وطن راشي
سخت خوابدون مې پخپل مات ستړي بدن راشي
نری نری څړیکې مې وکرځې په رګ رګ کې
ته نه یې مګر یو احساس دي ارمانجن راشي
ووایم خدایه! امتحان دي دا دی هو! تیرېږي
ژوند یلدا شپه ده،او په درد کې د غاښو تیرېږي

"کریمي" بشپړه روژه مې بیا له سره شوه
دچا څېره مې په څېره رابرابره شوه
زه میَن نه یمه په غېږ مې مینه ستره شوه
پیغله شوه ښکلې شوه شیرینه خنیوره شوه
زما په هر تصویر کې راغله لکه سیوری مې
او زما وینه کې راګډه شوه سندره شوه
مګر د خاکو په نظر کې له چرو تیرېږي
ژوند یلدا شپه ده،او په درد کې د غاښو تیرېږي

وړاندیز

ستا دوه سترګې لکه پاکې سیبارې دي
ستا اداوې مې په کوتو کې تسپې دي
لږ په نوو سترګو وګوره را ګله!
پخوانۍ سترګې مې ختمې دي زړې دي
خدای دي ویمه په سترګو کې شیرینه
درسره مې ده له حده زیاته مینه

غلې ناسته یې، په کوم جهان کې ورکې؟
جهان ویښ کړځې او ته په ځان کې ورکې
را بهړه شه شاوخوا ته خلک خاندي
جنتي مسکا را وباسه د باندې
د سپوږمۍ غوندې را وپړکېږه سپینه
درسره مې ده له حده زیاته مینه

خېر که زه یمه له پاڼ لاندې لوېدلی
خېر که بیرته درته نشمه راتللای
خېر که ستا په څنګ کې نشم کیناستلای
خېر کړځمه خو یمه لکه مړی
خو تا بولم همسفره او همدینه
درسره مې ده له حده زیاته مینه

ته پوهېږې په جومات کې په هجره کې
د خپل ذات د کتاب هره یوه صفحه کې
په ایمان کې مې او هم په عقیده کې
په لمانځه کې او په ورم د سجده کې
حِسوم دي نشت په رګ رګ او په وینه
درسره مې ده له حده زیاته مینه

خپلې ستړې سترې پښې راپسې نه ځي
چې ته نه یې ارادې راپسې نه ځي
درد خوړلی په هر سات کې راځړېږم
هم مذهبې! هیڅ بڅې راپسې نه ځي
"کرېمي" مې په هوا پسې تړلی
زه خوله یم دا نیزدې راپسې نه ځي
زلفې څنډ وهه!کرمي ده رانه مرینه
درسره مې ده له حده زیاته مینه

زړه تنګون

ستا په یوه مُسکا او لږ خندېدو راغی
ورغلی زخم بیا په اوښو راغی
ستړی غږ و د هوا په اوږو راغی
زړه مې ستا وصال ته بیا په کېدو راغی
راټول ځان رانه بیا بیا په خورېدو دی
خدایه! جار دې شمه زړه مې په چاوېدو دی

جنتي ستړکې مې بیاېې جهنم ته
زه بې واکه یم ولاړ یم دې سِتم ته
چې سرې شي او یوه لار راسره یوسي
قرأت وایمه جمعت ورکوم غم ته
خو خام ځان مې په خولَه په شرېدو دی
خدایه! جار دې شمه زړه مې په چاوېدو دی

لکه ستړی او بوډا مزدور بې ځواکه
دا رقم درېسې وځمه له واکه
په لمنه کې مې ټول کړه له سایې نه
ما بیا ما کړه او بیا ساه راته پیدا کړه
یو بنده مې په رګ رګ په بهېدو دی
خدایه! جار دې شمه زړه مې په چاوېدو دی

انځور واخلم په زړګي پسې یې تېنک کړم
زړه مې ټول کړم په لالي پسې یې ټینک کړم
ژوند ملګری کړم مرګي پسې یې ټینک کړم
خدای مچو کړم په تندي پسې یې ټینک کړم
هره ورځ مې حال بار بار په بدلېدو دی
خدایه! جار دي شمه زړه مې په چاؤدو دی

غلی ناست یم یاد راغلی د"منو" دی
الوتلی رنګ له ټولو ګلابو دی
بوی د درد دی غږ د سوو اسوېلو دی
او باران هم لکه ورو په اورېدو دی
"کرېږي" رانه ورو ورو په ورکېدو دی
خدایه! جار دي شمه زړه مې په چاؤدو دی

زه به نه یم!

نېت د تک به دي وي کړی زموږ کور ته
د څو شپو به دي هم کړې اراده وي
د کالو هغه وړه غوټه به واخلې
خپل کالي به پکې رد او بدل کېږدې
دواړه لاسه به دي يو تر بل تېرېږي
د زړه درب به دي تر غوږه را رسېږي
د پښو سپک به دي هم په دې رقم وي
لکه څوک چې د دېوال پر سر ګرځېږي

زه به نه یم!خپله غوټه به دي ټوله کړې را ټوله
په یوه تور رومال کې بنده به يې کېږ دې
چې پکې به نه مېوه او نه خواړه وي
داسې تشه او بې خوند به يې کېږدې
د سینګار توکې به کېږدې پخپل کور کې
څکه هلته به نور نه در پکارېږي
په جامو کې به دي هم هغه رنګ نه وي
په ټکري به دي هم دوړې معلومېږي
په نه زړه به دسورلۍ طرف ته ورشې
څکه دا به دي بې ما اول راتګ وي
په دې سوچ او په دې فکر کې به کېنې
چې د کور هغه کوټه به څنګه ښکارې
چې به هغه ځواني مرګ پکې دېره و

موږ به هم نيم جای جوش چای ورسره وکړ
وخت او ساعت به رانه تېر هغه شېبه و

زه به نه يم!په دې فکر به زموږ تر کوره راشې
دروازه به يې هم هغسې وي خلاصه
لکه مخکې چې به کله پرې راتللې
دروازه به کړې په سپينو لاسو خلاصه
د کوټو خواته به ورشې غلې غلې
وارخطا به يې د زړه درزا نيولې
په انګړ به يې ولاړه زبون وهلې
کورنيان به درنه شاوخوا را تاؤ شي
وايي څه کوې سفر يې ځورولې؟
ته به وايې نه!نه!ښه يم بيخي ښه يم
هسې وروسته له مودو يمه راغلې
دا فضا راته عجيبه را ښکاره شوه
په دې وجه ومه لږ قدم نيولې

زه به نه يم!له روغبړ وروسته به بيا ووځې دباندې
زما تصوير به دکوږ هر ځای درته خاندې
په نه زړه به هم هغې کوټې ته ورشې
هغه زه چې پکې تل وم اوسېدلی
شاوخواه ته به يې په ځير ځير باندې ګورې
خو زما د لاس به هيڅ نه شي مندلای
په ډنډ سترګو به هغه کوټبند ته ګورې
چې زما به پرې واسکټ و ځړېدلی

کتابو ته به مې هم سر ور ښکاره کړي
چې نري غبار به وي هر یو وهلی
همدا نظم به په ګوتو باندې درشي
کړیې"به وي رښتنی غږېدلی
بې وسی ته به له سره په ښېرا شي
کتابچو ته به مې غلې په ژړا شې
زه به نه یم!

اختر

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
چې سهار وختي دي پاڅوي له خوبه
سرې منګولې دي په مخ باندې راکاږي
په تندي باندې دي ښکل کړي له ګرانتوبه

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
سترګې پرانيزې يوه بله ننداره وي
ته به وايې که سپږمۍ راکښته شوي
مخ ته ځيره دي دچا داسې ځېره وي

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
ته لا سم له ځايه نه يې پاځېدلی
چې په جو،جار دي تر غوږه دا غږ درشي
قربانکه!خوب خو نه يې ځوړولی

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
چې غږ وکړي ما اوبه درته راوړي
اودس وکړه جار!چې لمر په راختو دی
مُسله مې د لمانځه درته راوړې

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
بيا تر څنګ دي شرنګهار شي د بنګړيو
بيا خوشبو د رنګارنګ عطرو راشي
چې لګيږي په کالو او په څدريو

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
چې پایزار دي د اختر درته راواخلي
بیا دي ولیږي په لاره د عیدګاه تا
یا رومال او یا څادر درته راواخلي

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
ستا نظر او سوچ طرف ته د الله کړي
دا لګیا په تیاري کې د مېوو شي
په دې سوچ کې چې په مینه دي رضا کړي

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
چې را ستون شې او هر څه درته تیار وي
ماتې سترګې دي پرې بیا ځلې خوږې شي
راجوړ کړي یې رنګونو نه بازار وي

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
چې له غاړې نه دي تاؤ کړي سرې منګولې
درته ووایي اختر دي مبارک شه!
یه!جانانه،یه! زړګی مې،یه! ښاغلې!

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
موږ ځنګون باندې سر ایښی دی تنها یو
نه مو څوک شته،نه په څنګ کې د کوم چا یو
له خپل خیال او تصور سره لګیا یو

اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
پیره!مور، چرته او چرته اخترونه
دچا نشت "کړېږي"دا احساس راکړي
دچا نشت مو راوژلي اُمېدونه
اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي
اختر هم دچا په شتون باندې اختر وي

که مې غږ اورې

په سندرو کې په ورېږم د هوا کې
په مخونو کې رنګونو کې ښکلا کې
حِسوم دي د هر زخم په غوغا کې
په سهار کې،په غرمه کې په ېګا کې
مکمل یمه ازار،ازار،ازار
که مې غږ اورې،راته وایه چې جار!

شپه مزدوره ده او زه یم پکې ستړی
فکر مات مات دی له زړه یم پکې ستړی
سوې چیغې مې په جسم کې بندی دي
لکه غږ ددېواله یم پکې ستړی
ایتا طمعې کړمه مړ په انتظار
که مې غږ اورې،راته وایه چې جار!

ستړی سات دی او بجې یې په شاکړې
وخت ګوډ شوی خپلې پښې یې په شا کړې
ژوند لمن کې سپېرې خاورې من من ایښې
اُمېد درومې ارادې یې په شا کړې
ته راووځه! ورته نیسه مخ ته لار
که مې غږ اورې،راته وایه چې جار!

خدای مچو کړم په قدرت داستا د سترګو
شيطان مړ کړم په لذت داستا د سترګو
وجود پوه کړم په شيدت داستا د سترګو
بيا بيا وايم شهادت داستا د سترګو
حُسنداره ياره يم درته بيمار
که مې غېږ اوري،راته وايه چې جار!

ځان ته ګورم ځان مې ځان په اوږو وړي
لکه څوک چې غر روان په اوږو وړي
ورو په ورو مې اوږې ريږدي ماتې نه شي
چې ګناه ګناه جهان په اوږو وړي
په قامت باندې مې زور کوي ګزار
که مې غېږ اوري،راته وايه چې جار!

"کړيې" وينې ستا ژبه کې جنت
ستا خبرو کې ويده دی عبادت
زمانې ته مې ور وشينده لذت
نوم مې واخله په همزولو کې اوچت
د مالت سترګو کې شنه شه لکه خار
که مې غېږ اوري،راته وايه چې جار!

ثبوت

دا دی! څو کلونه تېر شول سر په سر چې
يوه بلا مې په وجود راننوتې
له لړمه او له ماره زهر جنه
اژدها مې په وجود راننوتې
زه حيران يمه چې ولې نه ختمېږم
لا ترڅو به په دردونو کې کډېږم

دا دی! دا مې څه کم سل وار د توبې دی
مسلسل مې دي يو بل باندې استلې
خدای خبر چې زما جسم کې تر کومو
اندامونو کې په وينه رسېدلې
ځان تر اوره پورې وړمه او سوځمه
دادی! دا وارې توبې به پخومه

دادی! سترګې راپسې شولې خونخوارې
دادی! جسم کې مې يې خښې دي نوکارې
زه عاجز به څه تاب راوړمه دې درد ته
چې په ما دي د وجود اعضاوې بارې
سترې سترې يمه سترې ساه مې خېژي
دادی!سترګې مې په سترګو کې خښېږي

دادی! تاته مې بیا وکړلې ښېراوې
چې را پېتی شولې نورې نورې ګناوې
په زخمونو کې مې نه کیږي رڼا وې
حیف په ما چې ځان ته غواړمه دعا وې
دادی! بیا ځمه په کوم نا بلد لوري
کومې کومې حادثې به راته ګوري

دادی! دغه هم منمه چې زه نه یم
هغه"زه" چې د خدای مخ ته به ولاړ و
په ګناوو په ثواب به ښه اقرار و
او په سترې سترې ژوند کې به کرار و
دادی! اوس د منوګۍ په غم ککړ دی
دا دی! خدای ته څو موده نه دی ورغلی
خدای خبر چې اوس به څومره لوی مجریم وي
"کریمي" جرم یې دار ته رسېدلی
دادی! څو کلونه سر په سر بدل شول
دادی! لا مې زخم نه دی ورغلی

که زه مېَن نه وای

که زه مېَن نه وای،دچا په غېږو غېږو سترګو
ما به دونیا په اور کې کرځوله سوځنده
لکه سکاره به مې رنګونه بادول په باد
لکه غبار به په ائینو باندې بدرنګه وم
لکه سکروټه به مې ځان تباه کول په باد

که زه مېَن نه وای، سپوږمۍ به مې یاري کړله؟
رینو رینو ستورو به دا رنګه واه واه کول؟
او ما به داسې د لفظونو شاعري کړله؟
هوا به داسې په رګ رګ کې ښنګلوله؟
موسم به کله کله دا مهرباني کړله؟

که زه مېَن نه وای، ګلونه به مې ټول سوځول
لکه خاشاک چې څوک په اور د تناره سوځي
که زه مېَن نه وای،د مینې لاروی نه وای
د دونیا ټولې لارې ګرمې سرې ښه سوځي

که زه مېَن نه وای، ائینو به را توکلې لاړې
زه به له هر رنګ جلا د درندې رنګ وم
زه به سبا ته په جګرو باندې راوتی وای
زه به ډېوه نه وای او زه به د تیارې رنګ وم
وړو مرغانو به وزر راباندې نه خوراوه
زه به د باز ددې خونکار سرې پنجې رنګ وم

که زه مېَن نه وای، جنت به ډېر ژړلي وای
دوزخ به خپل نور وزرونه غوړولي وای
درد به ناصور ناصور به زخم لا اعلاجه وای
ټول طبیبان به رانه لرې لرې تللي وای
زما په رنګ کې به رنګونه د لالي نه وای
زما په جسم کې به دغه خوشبویي نه وای

که زه مېَن نه وای، نو خدای به رانه هم هېر وای
که زه مېَن نه وای، په غم به رانه غم هېر وای
که زه مېَن نه وای، په وچ حلق کې به کرځېدای
اوبه به ماته لکه شات شات به خواږه نه وای
تا به خندلې راته داسې په مسکا نه وای
زما به ډالۍ درته په یوه نظر کې زړه نه وای
که زه مېَن نه وای، نو بیا به"کریمي" نه وای
شین به په ځینو زړو کې داسې دایمي نه وای
که زه مېَن نه وای،

نیزدیکت

ستا د مخ لوړې غلبه راباندې کړې دومره
چې منصرف له هرې لوړې د روژې یمه
لا پروا کرځم لکه هیڅ چې پروا نلرمه
په سر اخستی دي د مخ او نور نشې یمه
برعکس حال دی خپل حالت ته فکر وړی یمه
چې څومره لرې یم همدومره در نیزدې یمه

هرې دعا کې هر ثواب کې نیمایي را کده
ته مې یې ذهن ته په لا یتناهي را کده
ستا په نامه باندې د هر لمانځه څادر تولوم
ته یې زما په هر ثواب هرې نیکي راکده
ستا د لمنې په سوچ خپل څادرته غاړیوځمه
ستا په لیدو مې شي په ذات کې خوشحالي راکده
د هر موسم هوا دروړی دریسې یمه
چې څومره لرې یم همدومره در نیزدې یمه

ستا د مخ نور ته رینول غواړم د شپو خپلو
زه باید ورکړمه حِساب د ګناهو خپلو
تر سباوونه باید شمار کړمه ورک ستوري خپل
او سهار رسم کړم تصویر مې د خوبو خپلو
له مانه پاتې پکې خپل معصوم ځان چیغې وهي
زه نا بنا یم ما راسم کړه په پلو خپلو

د سیوري روح

ستا په لاسونو کې ځان ګورمه دلې یمه
چې څومره لرې یم همدومره در نیزدې یمه

ستا د مخ لوړې دې حالت ته رسولی یمه
چې ورځ کې څوداني مخونه خورم بدخونده وي
د خپلې لوړې اوبال ووهلم داسې چې
هره لحظه مې شکایت له خوړه ژونده وي
د دونیا هر نعمت دې لوړې ته ور نذر کړم
مګر بیا هم تږنه سیوا په څو څو چنده وي
شیبه شیبه درپسې باد ایرې ایرې یمه
چې څومره لرې یم همدومره در نیزدې یمه

ستا د مخ لوړه ده له ما هېره ده لوړه خپله
آن حِسوم دې له خبرو او له غږه خپله
د دونیا شور ته پرې نغمه د سکون وښنمه
ستا پوست اواز ایستلای نشمه له غوړه خپله
"کرېمي" ستا یم که له هرې نظارې یمه
چې څومره لرې یم همدومره در نیزدې یمه

مثلاً!

هسې مثلاً! که ته زما قسمت شوې
مثال وایم د رنګونو نه را جوړې
هر یو رنګ به دي جلا جلا جلا کړم
په هر رنګ کې به دي هیلې د ژوند کړ کړم
هر یو رنګ به دي جلا په وینه کډ کړم

هسې مثلاً!خبره مې کوله
زندګي به لکه ونه د سره اوړي
چې مېوې پکې له ورایه را زړېږي
د هوا پاسته منګول به پرې لګېږي
خوشبویي به یې په خوند خوند را ځِسیږي
تر سایې لاندې به یې وکړو لږه دمه
له مېوو به یې ځان هم لږ برخمن کړو
ستړی روح او ستړې ساه به کړو بې غمه

هسې مثلاً!ته څه وایې شوخکې؟
چې دشپې کرار سکوت او خاموشي وي
تر څنګ ایښې مو توده چاینک د چې وي
ستوري مُسک مُسک راته ګوري له اسمانه
سپوږمۍ هم حجاب استلی وي له ځانه
شمالونه موسیقي غوندې غږیږي

کائینات لکه جلکۍ ورته کډېږي
ستا پستې زلفې پر مخ زما لګېږي
عمر ټول ښه په خوندو سره تېرېږي

هسې مثلاً! که دا هرڅه پېښېږي
"کړېږي"به بیا دونیا ته راستنېږي
بیا له سره به ماشوم غوندې لوېږي
بیا به بېرته لکه ونه زرغونېږي
خدای دې وکړي دا دعا وکړه زړګکې!
اې زما د مست خیالونو شاه ملکې!

دا زه څه یم؟

تار مې واچاوه په غاړه کې او مار شو
د وجو په هر یوه رګ رګ کې ایسار شو
رانه خوري د تنې وینې رنګ مې زېړ دی
بې رسۍ نه مې ځان ځوړند را په دار شو
ورځ تر بلې پسې ورو ورو بترېږم
دا زه څه یم او په کوم فصل کې کېږم

د ذات لمر مې دی د وخت تندر نیولی
د تیارې په غېږ کې پروت یمه داغلی
لکه مار داسې را تینګ مې شي تر غاړي
چې هر کله مې څادر په غاړه کړی
داغ لګیږي په جامو رانه بدلېږم
زه به کله؟چرته؟تاته در رسېږم

د جومات اولني صف کې ولاړ یم
د خدای مخ ته د کالبوت په څېر بې سېکه
کلمې راڅخه کډې وډې کیږي
لکه څوک چې وي ناروغ یا ډېر بې سېکه
کوم لمونځ خو سوچ مې ځي ستا تر درشله
بندګي هم رانه هېره کاندي خپله
لا تر څو به په توبو باندې خلاصېږم؟
لا تر څو به د خدای مخې ته شرمېږم؟

د سیوري روح

لاس مې نه را چاپېرېږي په اعضاوو
مخامخ یمه د ښو تورو بلاوو
اندامونه مې ماتیږي له لړزې نه
زه ورو ورو اوړم له هرې ارادې نه
د کلانو مخ ته نشم کتای خوري مي
دچا مخ رایادوي او ورته وړي مي
په رک رک کې مې خورې دي لکه ستنې
ځینې ورځې ځینې شپې ځینې غوښتنې
په سکروټه باندې دود دود یم دودیږم
چیغه چیغه تر اسمان پورې رسیږم

قسمونه رانه بیا بیا ځل ماتیږي
لکه لاس نه چې پیاله د سرې لوېږي
ځان مُجریم کرځوم د ځان له قوانینو
ځان مې ځان کې له خپل ځان څخه پټیږي
غُرپ اوبو مې هم له ستونې نه تیرېږي
ځان ته ګورم او په ځان مې خواه بدیږي
"کرېږي"به پخوانی"کرېږي"کیږم
په دې هڅه باندې بار بار نا کامیږم

نن ښه نه یم!

نن ښه نه یم!نن ییخي پسې خراب یم
له نظر سره مې مخ ته مخ ته کیږي
مُسکې شونډې له خندا څخه پرکیږي
ته به وایې که په څنګ راسره درومې
له اوجود څخه مې چهار چاپېر تاویږي
هم د ورځې هم دشپې راسره خاندي
تصور کې مې نیزدې راسره خاندي
څه به وایمه خو بشپړ یې یم وړی
ځان کې ورک یمه په ځان کې یم نیمګړی

نن ښه نه یم!باور وکړه اندیواله
ځان په کټ کې جنازه محسوسومه
اوجود وران ذره ذره محسوسومه
د لحد د دېوالونو مناظِر یم
له څلورو طرفو څخه راګیر یم
نه مې بې له خدایه غږ چا ته رسیږي
نه مې اور چاته په زړه کې معلومیږي
سوي کوکې د مرۍ په زور را نیسم
رینې اوښکې مې په سترګو کې ښکاریږي

نن ښه نه یم!ستا یقین کیږي کنه خو
له څلور کونجه جهانه مې زړه تور دی
نړیدلی مې د هیلو کلی کور دی

د نظر ښیښې مې ورو ورو را ماتیږي
او په سترګو کې ساتلی مې سور اور دی
غلی کړځمه ناهیلی ځوریدلی
هر اُمید مې خپله خاورو ته سپارلی
زندګي لکه بالښت تر شا مې ایښي
زه ستومانه یمه او څنګ مې پرې وهلی

نن ښه نه یم!د ماضي خیال یم اخستی
دونیاګۍ او زندګۍ دي رانه هیرې
د ماضي دخیال وزرې دي پرې تیرې
زه یې تېر خوږو یادونو ته یم وړی
نه مات مات یم،نه داغلی نه نیمګړی
را یادیږي تاته هیلې اُمیدونه
نوي نوي توکیدلې ارمانونه
همهغه چې اوس یو هم راسره نشته
همهغه چې پرې اباد مې وو خیالونه

نن ښه نه یم!نن د خدای ج مخې ته ناست یم
راسره دي د سکروټو ګناهونه
حسدونه، نفرتونه،هوَسونه
په لړزانده مې پښې دي او لاسونه
او له ژبې مې فرار کاندي لفظونه
د اُمید کچکول مې مخې ته دی ایښی
ډکې غواړمه د فضل جنتونه

له هیبته مې ویښتان دي لکه ستنې
دا چې خدای ج به مې پوره کاندې غوښتنې؟

نن ښه نه یم!په رګ رګ مې درد نخیږي
را نه هېرې دي مزې د ژوندانه مې
زخم ورو ورو تازه کیږي په دې زړه مې
د ټکور او د ملهم مې هیڅوک نشته
بې له خدایه مل دغم مې هیڅوک نشته
غم د دم په څېر ډولکی په لاس تاویږي
زندګي ده لکه ډمه پرې څرخیږي
څوک به څه وکړي د زړونو معامله ده
نه را پاتې بله لاره نه اسره ده

نن ښه نه یم!"کړیږي"ګله پوهېږې
زړه مې بد دی په اوجود مې خواه بدیږي
چې ورانیږي ځینې خلک پکې اوسیږي
له اوباله،له ازاره یې ډاریږم
پخپل ځان باندې له حده زیات ځوریږم
خو څه وکړمه پرهر دی د چا نشتون
راجوړ شوی په ځیګر دی دچا نشتون
زندګي ته د تمثل په ډول خاندو
یو څو ورځې څو کارونه ورته کاندو

اندیواله

ته خو راشه اندیواله دلته کېنه!
ولې ګُرم یې؟بیا دي څه ګُرم رانیولی؟
دونیا دوه ورځې ده دوه ورځې موسم ده
نه ډېر عمر ده او نه په چا هر دم ده
کله شرکنده باران ده په للمیو
کله شونډو د ګلاب کې رڼ شبنم ده
چې د لمر وړانګې ښکاره شي پرې ورکیږي
دا للمې هم بیا له سره تږې کیږي

ته خو راشه اندیواله دلته کېنه!
ولې ګُرم یې؟بیا دي څه ګُرم رانیولی؟
زندګي لکه نری شمال چلیږي
کله ګرم کله یخ په چا لګیږي
کله دوړي شي غبار ځان سره واخلي
د فضا رنګین بازار ځان سره واخلي
سترګې پټې کړي نظر ذره ذره کړي
سرې ړوند کاندي او لار ځان سره واخلي
کله بیرته بیا نری نری باران شي
فضا رڼه شي ښکاره بیرته آسمان شي
بیا خوشبو د کایناتو را خوره شي
بیا هم هغه رنګ ښکلې ننداره شي
په شیبه شیبه ساعت ساعت بدلیږي

نه په ښو او نه په بدو پاتي کیږي
نه په سوال نه په زاریو تمامیږي
زندګي تر مقرره وخته کیږي

ته خو راشه اندیواله دلته کښنه!
ولې ګرم یې؟بیا دي څه ګرم رانیولی؟
درد خوړلی یې دردمن یې که خپه یې؟
شونډې وچې سترګې سرې کیله کیله یې
مخ دي کونځې په ځوانی را ښکاره کړي
جار!بیمار یې؟ که ازار یې؟که خسته یې؟
چاته ناست یې دچا طمعې یې خوړلی؟
ځان نه ورک یې او له ځان څخه کوښه یې
نه په ډېرو شبګیرو څوک راستنیږي
نه تقدیر د لاس په کرښو کې بدلیږي
سترګې لوڅې کړه ښکلا ته بیرته راشه
ماضي ووژنه دونیا ته بیرته راشه

ته خو راشه اندیواله دلته کښنه!
ولې ګرم یې؟بیا دي څه ګرم رانیولی؟
منم سخته ده عادي حالت ته تلل بیا
د راغلی کس له زړه څخه اِستل بیا
د بایللی زړه او جسم خپلول بیا
او په ځان کې ځان له ځانه هېرول بیا
نه تر عمره څوک ژوند بار په اوږو وړلای شي
نه درد دونه او غمونه نور زغملای شي

کلمې دي په ځان دم کړه راشه کېنه
خپکان ووژنه ورک غم کړه راشه کېنه

ته خو راشه اندېواله دلته کېنه!
ولې ګُرم یې؟بیا دي څه ګُرم رانیولی؟
عزرائیل علیه سلام به اخېر راشي
رانه پاتې به د دوو ورځو دونیا شي
زخم زخم زړه به پړ شي له زخمونو
سوی جسم به وي داغ په پر هرونو
درد به کډه خپله بار کړي پښېمانه
تش کالبوت خوندې به څو له دې جهانه
دونیا جوړه ده له لویه امتحانه
امتحان خو بس همدا دی کنه ګرانه

ته خو راشه اندېواله دلته کېنه!
ولې ګُرم یې؟بیا دي څه ګُرم رانیولی؟
له دونیا نه چې هوسا شو څو عقبا ته
جنتونو ته،رنګونو ته،ښکلا ته
د یوې یوې خبرې به حساب وي
په هرڅا به لیکل شوی لوی کتاب وی
نه به جرم دچا پټ نه به ثواب وي
یوې خوا ته به جنت بل به عذاب وي
الرحیم او الرحمن خدای به قاضي وي
نه به فِسق نه به فساد نه درغلي وي

د سیوري روح

هر سړي ته به انصاف ورکول کیږي
دحق خدای به په حق حق فیصله کیږي
اُمېدونه مو ساتلي د جنت دی
د ښکلا د منظرو او محبت دی
باوري یم چې جنت ته به رسیږو
دا ویران ویران به هغلته جوړیږو
کړیي"چې د دونیا په سر ځوریږي
جنتونه هم هغه ته تیاریږي
ته خو راشه اندېواله دلته کېنه!
ولې ګُرم یې؟بیا دي څه ګُرم رانیولی؟